مورچل

دناتو نهم قوماندان به د اتم پر پله ځي!!

دوولسم کال، پنځمه، پرلپسې ۱۱۷مه ګڼه،
شعبان المعظم ۱۴۳۹هـ ق مې ۲۰۱۸م

دولتي ځواکونو ته د طالبانو عمومي بښنه د نجات یو غوره فرصت

د الخندق عملیاتو ستر فتوحات

لاسپوڅې اردو د ولسي شتمنیو چور او چپاول ته مخه کړي !!

مسلم یار ته! د ترمپ لخوا ډالی.....

د شهید منصور رحمه الله، کردار تر کلام اوچت وو ....!!

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

دوولسم کال پنځمه، پرلپسې ۱۱۷مه ګڼه، شعبان المعظم ۱۴۳۹هـ ق مې ۲۰۱۸م

لړليک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله.....	۱
۲	د الخندق عملیاتو د لومړۍ میاشتې ستر فتوحات.....	۲
۳	د الخندق عملیاتو اخلاقي ځانګړتیاوې.....	۶
۴	د شهید منصور رح، کردار تر کلام اوچت وو !!.....	۸
۵	تر فراه وروسته فاریاب د سقوط په درشل کې.....	۱۰
۶	ټرامپ ته د مډال جوړوونکي انجام !!.....	۱۲
۷	دولتي ځواکونو ته د طالبانو عمومي بښنه.....	۱۵
۸	د سعودي اهل خیر او د امریکا ناکاره ارادې.....	۱۷
۹	مسلم یارته! د ټرمپ لخوا ډالی.....	۲۱
۱۰	القدس کې د امریکا سفارت اویوه بله (نکبه).....	۲۳
۱۱	لاسپوڅي اردو دولسي شتمنیو چورچپاول ته مخه کړې	۲۷
۱۳	د اسلام غزوات او سرایا.....	۲۹
۱۴	د مورچل وړمې.....	۳۴
۱۵	د ۲۰۱۸م کال د مې میاشتې جهادي خبرونه.....	۳۶

د امتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی :

حسن خپل | ایوب صافی
حسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مسافر | حافظ سعید

تخنیکي چارې :

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

دناټو نهم قوماندان به د اتم پر پله ځي!!

پرافغانستان دناټو دبرید له پیله چې هر قوماندان راغلی وارله مخه ډېر تبلیغ ورته شوی او ډېر بې خایه ستایل شوي اویاخو د اچې دوی هر یو به رښتیا هم همدومره مېړني اود ستاینو وړ وي، خو په افغانستان کې ماموریت یې پیکه کړي او ونه چلیږي .

په افغانستان کې دناټو او امریکایي قواوو دقوماندان " جان مک نیکولسن" په اړه هم ډېر څه ویل کېدل : پینټګان یې دټاکل کېدا پرمهال ویلي وو : " هغه پوهیږي چې دمسؤلو اوچټکو قواوو رهبري څه ډول کیږي او څه ډول به زمونږ دشریکانو ظرفیت دومره لوړ کړي چې دفوري او اوږدمهالو تهدیدونو په وړاندې وړ ځواب وویلی شي ..."

خو ناکام شو او ټوله وړتیا یې په دریو (ناکامو) هڅو کې راټوله شوه، چې خدای تعالی پوهیږي له څومره تدبیرونو اوسوچونو وروسته به دده دغه ابتکار رامنځته شوی وي ؟

لومړی ابتکار یې د ړندو بمباریو زیاتوالی او عام وژنه وه چې له ټولو بشري نورمونو او خواخوږیو په پښه اړولو او تجاوز سره یې دهیواد په لرو او بر کې دناترسه بمبارونو وحشت رامنځ ته کړ ډېرکورونه، مدرسې اوجوماتونه یې ویجاړاو یو زیات شمېر بې ګناه هیوادوال ښځې، ماشومان او سپین ږیري یې شهیدان کړل.

بل ابتکار یې داستخباراتي کړیو له لارې د (پرلتونو) ډرامه وه چې له حده زیات کوشش ورته وشو ترڅو ولسي رنګ ورکړي او دطالبانو په وړاندې منفي ذهن ته وده ورکړي .

دریم او وروستی نوښت یې پرطالبانو دمذهبي فشار واردول و چې په دې لړکې یې له ډېرو هڅو او پلانونو سره وروستی هڅه په اندونیزیا هیواد کې دعلماوو غونډه وه چې ډېره تمه یې ترې دخپل میل مطابق فتوا خپرول و .

ښکاره الهي نصرت، دولس قربانی اوداسلامي امارت دمشرتابه پوره ځیرکتیا او اخلاص و چې دا او ورته نورې ټولې حربې یې ناکامې شوې اوبالآخره دده پای او نتیجه هم دا شوه چې دټرې می دمیاشتې په ۱۹ مه نېټه په سپینه مانۍ کې دافغانستان دوضعیت په اړه په جوړه غونډه کې " ټرمپ" په افغانستان کې دخپلې ناکامۍ ټوله پړه پرهمدغه مبتکر قوماندان " جنرال نیکولس" ور واچوله او هغه یې نا اهله وبالله .

دهیواد داوولس کلن اشغال په موده کې دلته دناټو دقوماندانانو دهر یوه دپیل او پای سرګذشت همدا په برخه دی ، نو بیا څه دي چې " سکاټ میلر" به له هغوی بدل وي او ددغې ناکامې جګړې لوری به دبریا په لور واړوي ؟؟ له دې پرته چې همدا نهم قوماندان به هم دخپل سلف اتم قوماندان پرپله ځي او بس . ان شاءالله .

د الخندق عملیاتو د لومړۍ میاشتې ستر فتوحات

قاري حبیب

د روان ۱۳۹۷ هـ ش کال د ثور د میاشتې په پنځمه نېټه چې د ۲۰۱۸ د اپریل له ۲۵ سره سمون خوري د اسلامي امارت لخوا د "الخندق" په نوم عملیات پیل شول، د عملیاتو په اړه په خپره شوې اعلامیه کې راغلي و چې مجاهدین به له نویو تاکتیکونو او تهاجمي مانورو څخه په استفاده سره کال د دښمن تر واک لاندې سیمو باندې عملیات پیلوي او له دښمن څخه به سیمې تصفیه کوي. د دې عملیاتو له پیل څخه د یوې میاشتې په تیریدو ثابته شوه چې سره کال د مجاهدینو جنګي پلانونه تر پخوا ډیر مؤثر دي او په لنډه موډه کې یې خورا ډیرې لاسته راوړنې دځان کړي دي.

دالخندق عملیاتو د پیل په لومړۍ ورځ په دښمن ۱۳۲ بیلابیل بریدونه ترسره شول او لا هم د ورځینو بریدونو لړۍ په درست هیواد کې روانه ده. خو د دې عملیاتو په لړ کې په ځینو ولایاتو کې پراخې سیمې د دښمن له شتون څخه تصفیه شوې دي چې دلته به په لنډو ورته اشاره وکړو.

بدخشان

د الخندق عملیاتو له پیل سره سم د اسلامي امارت مجاهدینو په بدخشان ولایت کې په ځلورو ولسوالیو راغستان، تشکان، کوهستان او شهدا کې هم مهال عملیات پیل کړل، د دې عملیاتو په لړ کې مجاهدینو په ټولو

سیمو کې پرمختګ وکړ او د کوهستان ولسوالي یې په بشپړ ډول فتحه کړه.

د مې میاشتې په اوومه نیټه چې په بدخشان کې جګړې زور اخیستی و په پارلمان کې د بدخشان وکیلې فوزیې کوفي وویل په دې ولایت کې تر اوسه تر سل تنه ډیر حکومتي عسکر وژل شوي دي او نږدې ده چې د بدخشان زیاتې سیمې د مجاهدینو لاس ته ولویږي. د مې میاشتې په لسمه نیټه د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد وویل چې مجاهدینو د بدخشان په تګاب ولسوالي کې د کتوبالا په نوم دره نیولې ده، پنځه پوستې یې فتحه کړې او غلیم ته یې درونده زیان اړولی.

د بدخشان په فتوحاتو کې مجاهدینو ته لوی مقدار مهمات، وسلې او جنګي وسائط هم په لاس ورغلل او لاهم په دې ولایت کې پرمختګونه جریان لري.

فراه

د اسلامي امارت د مجاهدینو لخوا د هیواد په لویدیځ کې د فراه د نیولو عملیات د مې په لسمه د ولایت د مرکز له ختیځ او لویدیځ څخه پیل شول، د ولایت د مرکز ختیځ اړخ ته شپیته کیلومتري کې د بالابلوک له ولسوالۍ مجاهدینو پراخ بریدونه شروع کړل، د فراه رود په امتداد د حکومتي قواوو ټولې پوستې ونیول شوې او مجاهدینو د ولایت د مرکز په خوا پرمختګ ته دوام ورکړ. د فراه چارواکو ومنله چې په دې جګړه کې په نورو پوستو سربیره مجاهدینو د بالابلوک د دوراهي مهم مرکز د ۲۳ تنه پولیسو له وژلو وروسته نیولی، دغه راز د فراه ښار ته نږدې د درج په نوم پوځي مرکز کې ۱۸ تنه سرتیري وژل شوي او سیمه د مجاهدینو لاس ته لویدلې.

په همدې شپه د فراه د مرکز لویدیځ اړخ ته په ۱۲۰ کیلومتري کې د لاش وجوین په ولسوالۍ هم مجاهدینو پراخ برید وکړ، چې له لنډې جګړې وروسته یې دولسوالۍ مرکز ونیو او دولتي عسکرو ته یې درانه تلفات واړول. په ولسي جرګه کې د فراه استازیو وویل چې په دې جګړو کې مجاهدینو د پراخو سیمو په نیولو سربیره د یونیم میلیون ډالرو په قیمت وسلې او جنګي وسائل هم نیولي دي چې څو ټانګونه او پوځي موټر هم په کې شامل دي.

د مې په ۱۵ مه سهار له سپیدو مخکې شاوخوا یوه بجه مجاهدینو د فراه ښار له لویدیځ او شمال شرق څخه د عملیاتو دوهم پړاو پیل کړ. د مجاهدینو ځانګړې ضربتي قطعه چې په دوربین لرونکو ټوپکو سمباله ده د شپې په تیاره کې یې له دوو خواوو د فراه ښار امنیتي کمربند مات او ښار ته داخل شول. سهار چې د فراه دوالي په شمول دولتي چاروا کې له خوبه پاڅیدل طالبان د ملي امنیت ریاست ته رسیدلي وو او فیسبوک کې خپرو شویو انځورونو په فراه ښار کې د هغوی وجود ثابتاوه.

د همدې ورځې په مابنام رسنیو وویل چې د فراه ښار اتیا فیصده سیمې د مجاهدینو لخوا نیولې شوې دي او په دې ډول دا افغانستان په سطحه له کندز وروسته دوهم ولایتي مرکز شو چې د مجاهدینو لخوا فتحه شو.

د مې په شپاړسمه نیټه مجاهدینو اعلان وکړ چې په خپله خوښه د فراه له ښاره وتلي دي. خو په راتلونکې شپه بیا د فراه ښار په ځینو سیمو کې جګړه پیل شوه، داسې معلومیږي چې مجاهدین د ښار له مارکیټونو او بازار وتلي خو ورځیرمه سیمو کې یې سنګر نیولی دی. د فراه سقوط د ګډوله حکومت اعتبار په ځمکه وویشت نو ځکه یې امنیتي وزیرانو له مسؤلیته د تیښتې په هڅه کې دعوه وکړه چې په فراه د ایران لخوا برید شوی او دا د اوبو د مدیرت جګړه ده. خو د فراه حکومتي والي بصیر سالنګي ازادي راډیو ته په مرکه کې وویل چې په دې جګړه کې یې د ایران دمداخلې هیڅ اسناد او شواهد نه دي موندلي.

غزني

په غزني کې د مجاهدینو ستر عملیات د شلګر یا اندړو له ولسوالۍ څخه پیل شول، له دې ولسوالۍ څخه تیره شوې د غزني ــ پکتیکا لار د مې میاشتې په دریمه نیټه د مجاهدینو لخوا د دولتي عسکرو اکمالاتو په مخ وترل شوه. حکومتي عسکرو د لارې د خلاصون لپاره له کابل او پکتیکا څخه سیمې ته ځواکونه واستول. خو له دوه ورځنۍ جګړې وروسته په داسې حال کې له جګړې وتښتیدل چې د امارت د ویاند په قول د جګړو په جریان کې د دښمن ۱۷ ټانګونه په چاودنو او مخامخ بریدونو کې په بشپړه توګه ویجاړ شول، دغه راز ۳۸ تنه عسکر، پولیس او اربکیان وژل شوي او ۴۲ تنه نور ټپیان دي. په نښتو کې ۲ تنه مجاهدین هم شهیدان او ۱۳ تنه نور ټپیان دي.

د غزني او پکتیکا لاره لا هم ترلې او د خلاصون لپاره یې ټولې حکومتي هڅې ناکامې شوي دي، له دې علاوه مجاهدینو په اندړو ولسوالیو کې هم له مرکز پرته ټولې سیمې نیولې دي. د مې میاشتې په ۲۲ مه شپه مجاهدینو د غزني ولایت دوه ولسوالۍ جغتو او دهیک په بشپړ ډول ونیولې، په دې ولسوالیو کې دښمن ته په مرګ ژوبلو سربیره زیات مقدار جنګي وسایل او وسایط هم د مجاهدینو لخوا غنیمت شول. همدا اوس د اسلامي امارت مجاهدین په غزني ښار راګرځیدلې او هره شیبه د دې امکان شته چې دغه ښار د مجاهدینو لاس ته ولویږي.

فاریاب

د مې میاشتې په اتمه نیټه حکومتي چارواکو ومنله چې د په فاریاب په بلچراغ کې مجاهدینو ۲۱ پوستې نیولې دي. د اسلامي امارت یو اند مجاهد صاحب وویل چې په دې جګړو کې یې ۵۰ تنو عسکرو ته یې مرګ ژوبله اړولې یو شمیر موټر او موټر سایکل او وسلې

يې هم نيولې. الاماره پانې ليکلي چې د کوليان سيمه چې ۷۵۰۰ کورونه په کې دي او د توغلمش پراخه سيمه هم د مجاهدينو تر واک لاندې راغلې ده. په همدې ورځ مابنام ناوخته رسنيو ومنله چې د فارياب ولايت د بلچراغ ولسوالۍ مرکز هم د مجاهدينو لخوا فتحه شو.

د مې مياشتې په اوولسمه نيټه د دفاع وزارت ويانډ جنرال محمد رادمنش وويل چې د فارياب ولايت مرکز ميمنه يو له هغو ښارونو څخه دی چې د مجاهدينو تر محاصره لاندې دي. نومورې وويل د افغانستان په سطحه د ۷ ولاياتو مراکز د سقوط له ګوابنس سره مخامخ دي او که دفاع ته يې جدي توجه ونيسي شايد د مجاهدينو لاس ته ولويږي نومورې دغه ښارونه فراه، غزني، فيض اباد، ترينکوټ، کندوز، ميمنه او پلخمري يادې کړل چې مجاهدينو پرې کړي را تنګه کړې ده.

عمومي خبره

همدا راز د الخندق عملياتو په لومړۍ مياشت کې په نورو ولياتو کې هم د پام وړ لاسته راوړنې ترلاسه شوې دي. د هلمند په نهر سراج کې مجاهدينو د دښمن پوځي څرخکه رانسکوره کړه، په دايکندي کې د اجرستان ولسوالي مکمله فتحه شوه، لسګونه عسکر مړه او ژوندي ونيول شول، په روزګان، غور او بادغيس کې هم پراخې سيمې د دښمن له شتون څخه تصفيه شوې او مجاهدينو ستراتيژيک پرمختګونه درلودل. په کندهار، پکتيا، سرپل او زابل او ګڼو ولاياتو کې بيا د دښمن په مراکزو او پوستو درانه بريدونه وشول، د دشمن مراکز فتحه شول او درانه تلفات وروا وښتل.

د الخندق عملياتو بريالي آغاز دښمن دومره وارخطا کړ چې د امريکا څارونکې اداري سيګار اعلان وکړ چې په افغانستان کې د ټرمپ پوځي ستراتيژي له شکست سره مخامخ ده. ځکه امريکايي جنرال نکولسن چې سرکال د پرمختګونو او له مجاهدينو د سيمو د بيرته نيولو خبره کړې وه تر اوسه د حکومتي ځواکونو د پرمختګ څرک نه ښکاري بالمقابل مجاهدين ورځ په ورځ سيمې نيسي او د ولسوالیو مراکز تر کنترول لاندې راولي.

شايد همدا ناکامي به د دې علت شوي وي چې د ټرمپ اداري په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو مشر جنرال نيکولسن له خپلې وظيفې معزول کړ او په ځای يې د اسکاټ ميلر په نوم نوی جنرال وټاکه. خو د جنرالانو دغه ادلون بدلون ځکه په روان پوځي وضعيت کوم اغيز نه شي کولای چې په افغانستان کې د غربي اشغالګرو په خلاف جهاد اوس بشپړ د ولسي پاڅون شکل غوره کړي چې کنترولول يې د امريکا د توان خبره نه ده.

د الخندق عملياتو اخلاقي ځانګړتياوې

■ معين احمد (معين)

د اسلامي امارت لخوا د الخندق عملياتو له پيليدونه پوره يوه مياشت تيريږي چې لله الحمد د ډيرو سيمو په فتح کولو سره نور هم د پرمختګ په حال کې دي.

اسلامي امارت هرکال د اشغالګرو او د هغوی د ملاتړو خلاف تر مخصوص نامه لاندې پسرلني جهادي عمليات اعلانوي، خو سږني الخندق عمليات د مجاهدينو د نورو کلونو تر پسرلنيو عملياتو څو خاصې ځانګړنې لري.

د الخندق عملياتو له پيله تر اوسه پوري چې د هيواد په لر او بر کې يې ډيرې برياوې لرلې ټول ترکيز يې پر دولتي مراکزو او دولتي منسوبينو باندې دی او تر اوسه پوري يې هيڅ داسې پېښه نه ده لرلې چې په هغې کې دې د الخندق عملياتو له وجې ولسي خلک متضرر شوي وي.

د الخندق عملياتو په طراحي کې په پوځي لحاظ په ډير مهارت سره دا هڅه شوې چې د عملياتو ټول تمرکز پر پوځيانو او پوځي مراکزو باندې وي.

همدا وجه ده چې د متعددو ولسوالیو او پراخو سيمو له فتح کيدو سره سره مونږ په تيرې يوه مياشت کې هيڅ ځای د ولسي خلګو د په ننبه کيدو او يا هم د مجاهدينو د عملياتو له وجې د هغوی د متضرر کيدو حادثه نه لرو.

په الخندق عملياتو کې د ولسي تلفاتو پر کنټرول سربيره مجاهدين حتی الامکان کوښښ کوي چې حتی هغه دولتي ځواکونه چې مخامخ د مجاهدينو مقابله کوي له وژل کيدو پرته مجاهدينو ته تسليم شي.

اسلامي امارت د دولتي افرادو له وژل کيدو څخه د جلوګيري په غرض د غوايي دمياشتې په ۲۸ نيټه يوه رسمي اعلاميه نشر کړه چې په هغې کې يې دولتي قوواو او ټولو حکومتي منسوبينو ته د تسليمي په مقابل کې عمومي بښنه اعلان کړې.

يوائې بښنه نه؛ بلکې د بښنې ترڅنګ له هغوی سره د ژوند د معيشوي اسانتياوو په برابرولو کې د مرستې کولو ژمنه هم ورکړې ده.

په الخندق عملياتو کې دولتي تسليم شويو ځواکونو ته عمومي بښنه د مجاهدينو پر يوه فوق العاده اخلاقي امتياز دلالت کوي.

ځکه د هغه چا لپاره عمومي بښنه چې هغه د اجنبي يرغلګرو په دستور ستا او ستا د ولس په وژنې پسې راغلی وي او ته ورته د تسليمي په مقابل کې د هغه د ژوند ژغورنې او په خپلې ټولنې کې د يوه آرام ژوند مهيأ کولو په لټه کې يې له شکه پرته چې لوی اخلاقي فضيلت ګڼل کيږي.

د الخندق عملياتو د همدې امتيازي ځانګړتيا له مخې په ټولو هغو ۱۷ ولايتونو کې چې دښمن خپله ورکې د مجاهدينو د پوځي عملياتو پر تشديد اعتراف کوي په سلګونو دولتي عسکر چې په هغو کې د ملي اردو، پوليسو، اربکيانو او نور وسله وال شامل دي له مجاهدينو سره يوځای شوي او وسله يې پرځمکه ايښې ده.

دا چې له يوې خوا د الخندق عملياتو پوځي طراحې په ډير ماهرانه او تکتيکي ډول شوې او له بلې خوا د هغوی د پيلولو مهال د رمضان المبارک له مياشتې سره ډير نيږدی شوی دی ځکه يې د فتوحاتو لړۍ ډيره چټکه او ګړندۍ ده.

رمضان المبارک هسې هم د فتوحاتو او بريالیتوبونو په مياشتې شهرت لري، همدا وجه ده چې په دې مبارکه مياشت کې د ټول هيواد په کچه جهادي بريالیتوبونه ډير زيات او مجاهدين په لوړ جهادي مورال خپل عمليات تر سره کوي.

د الخندق جهادي عملياتو دغه معجزانه جهادي بهير دښمن له سختې وار خطايي سره مخ کړی دی، د هغوی مورال يې ځپلی او په پوځي ليکو کې يو پربل سخت بې اعتمادي زياته شوې ده.

ځکه د مجاهدين لخوا د عمومي بښنې اعلان د هغوی په داخل کې د ډيرو عسکرو روحيه متأثره کړې چې اوس هر يو په دې لټه کې دی چې څرنګه وکولای شي د دې باطل صف په پريښودو سره ځانته د نجات او ژغورنې لاره برابره کړي.

امريکايي يرغلګر په افغانستان کې د جګړې د سوځوونکې اور په بل ساتلو سره کوښښ کوي چې دلته جګړه غزيدلې او ژبغړانده وساتي.

هغوی د همدې کار لپاره خپل لاسپوڅي رژيم ته په سلګونو ملياردە ډالر ورکوي تر څو د دوي په نيابت کې له خپل ولس سره جګړه پرمخ بوزي، خو د مجاهدينو دغه ډول امتيازي او اخلاقي پلانونه به د يرغلګرو جګړييز پلانونه هم داسې ور ناکام کړي لکه تر اوسه چې يې د الله په نصرت د هغوي پوځي او امنيتي پلانونه ناکام کړي دي.

ان شاء الله

وماذلک علی الله بعزيز

موسی فرهاد

د شهید منصـــــور رحمه الله

کردار تر کلام اوچت وو ...!!

د عـربي ژبي ضرب المثـل دی، وایـی: «مِـرأة الانسان عمله، لا کلامه، و مقیاس عقله، فعلـه» (د انسـان لپاره هینداره د هغه عمل دی، نه کلام، او د عقل انـدازه یې له کرداره څرګندیږي، نه له خبرو)

پورتنۍ کرښې ته په کتو، که سړی دقیقاً مطالعه وکړي، ډېر کم داسي وګړي به ومومي چې له یاد معیـار څخه برخمن وي، او هغه چې دا ځانګړتیا ولري؛ رښـتیا خبره ده چې د بریالیو انسانانو په کتـار کـې بـه شـمیرل کیږي.

زه فکر کـوم چـې شـهید منصـور رح، د پـورتنۍ خبري یو ژونـدی مصـداق ګڼـل کیـدای شي. چـې تـر کلام یې کردار خورا زیات او اوچـت و. نومـوړی چـې هر بادرکه وګـړي لیـدلی؛ کـم ګویـه خـو ډېـر مثبـت او پرکاره شخصیت یې موندلی دی.

شـهید منصورصـاحب هغـه څـوک دی چـې تـر أمیرالمـؤمنین ملامحمدعمرمجاهـد وروسـته زمـور د تاریخ یو ستر باب جوړوي.

هغه له دې امله چې په ډېرو سختو شرایطو کـې د جهادي صف د سمبالښت چاري ورله غاړې شوې، تـر ده وړانـدي د امیرالمـؤمنین ملامحمدعمرمجاهـد دوه ځای ناستي یو په بل پسي اسیران او بیا یو پـه بندیخانـه کـې شـهید کـړل سـو؛ د امـارت تـولې چـاري د امیرالمؤمنین لخوا ده ته وسپارل شوي. پـه داسـی حـال کـې چـې دا مهـال پـه هیـواد کـې د خـارجي یرغلګـرو پوځي قوت هم اوج ته رسـیدلی و، تـر سـل زره زیـات عسکر یې ځای پرځای کړي وو.

مجاهدین له نظامي، مـالي، سـیاسي او اجتماعـي پلوه داسې ګڼل کیدل چې له یو متلاشی حالت سره مخ دي. خـو منصورصـاحب پـه ښـه متانـت سره د همغـو سختو حالاتو او مجبورو شرایطو سره داسي مقابله وکړه چې جهادي صف یې د بل هر وخت په نسبت پیاوړی او په سیستماتیک لحاظ ښه منظم کړ. ډېر داسی کارونه یـې وکـړل چـې اوږدمهالـه اغیـزي بـه یـې نـه یـوازي د امارت، بلکي د ملت پر ژوند هم پاتي وي.

لکه مخکې مو چې عرض وکـړ، نومـوړی د قـول پرځای د عملي کار ډېر پلوی و، د خپل مشرتابه په ټوله دوره کې یې خبري او تقاریر دومـره وي چـې د نیشـت

برابر ګڼلی کیږي، ولي د عمل په میدان کې یې هغه څه وکړل چې د نن سبا ډېری واکمن ورکي پاتي راغلي.

د بیلګې په توګه:

د منصور صاحب لومړی کارنامه دا وه چې جهادي صف یې د ټول هیواد په سطحه په یو داسی چوکاټ کې تنظیم کړ، چې له مشرتابه تر ډېرې وړې دلګی پورې ټول صف د یو څنځیر غوندې سره وپیل شو، د منظمو پوځي تشکیلاتو ترڅنګ یې داسی اداري واحدونه د کمیسونونو او کمیټیو په شکل کې رامنځ ته کړل چې هر یو یې د یو وزارت حیثیت لري او د کارونو په ترسره کولو کې هر یو پخپله محدوده کې پوره بااختیاره او باصلاحیته وي.

په دې کار سره جهادي صف په اتومات شکل، له یو غورځنګ نه ورپورته د یو موازي حکومت بڼه غوره کړه، چې اغیزه یې مستقیماً پر ولسي-ژوند راڅرګنده شوه.

دا څکه چې تر دې وړاندې که څه هم مجاهدین د یوه امیر په قیادت کې په جهاد بوخت ول، د دښمن په وړاندې عملیات یې خپلسري نه وو، مګر چونکه تحرکات یې یوازې پوځي او هغه هم په چریکي بڼه وو؛ نو طبعي ده چې دا ډول حالت نظم او ډیسپلین څه ناڅه متاثره کوي. او هغه بیا هرو مرو د ولسي وګړو د ژوندانه چاري له ستونزو سره مخ کوي.

خو شهید منصور رحمه الله د یو لایحوي دستور په جوړولو او بیا د هغه په عملي کولو سره په دې بریالی شو چې لومړی د مجاهدینو نظامي صفوف د زونونو، محاذونو، قطعاتو، حلقاتو، وړو او سترو دلګیو په شکل کې له سره تنظیم کړي ورپسې یې نور اداري واحدونه د کمیسونونو په بڼه رامنځ ته کړل، لکه قضائی، سیاسي، مالي، فرهنګي، دعوتي، او داسي نور. د هیواد د ټولو ولایاتو او ولسوالیو لپاره یې د نظامي مسئولینو ترڅنګ ملکي مسئولین هم وټاکل. چې دا لړۍ تر ننه پورې د یو موازي حکومت په شکل بڼه پرمخ روانه ده.

نن یې مورِ او تاسو وینو چې زیاتره وخت غربي مطبوعات او د کابل په اداري کې دننه ځینې حلقې په دې اعتراف کوي چې اتیا فیصده ولس خپل ټول حقوقي او ورځنۍ مسائل د کابل د رشوت خوره حکومت پرځای د طالبانو محاکمو او نورو ادارو ته راجع کوي. ځکه چې د طالبانو له نظام نه یې د انصاف او د مسائلو د ریښتیني حل توقع وي، نه د کابل د فاسد رژیم نه.

کله چې د امارت ټول جهادي صفوف په یو چوکاټ کې په عملي بڼه منسجم کړای شول، نو سمدستي یې اثرات د مجاهدینو پر بریا او د ولسي-خلکو پر ژوندانه راڅرګند شول. همدا لامل دی چې نن په ملي او نړیواله کچه اسلامي امارت ته د یو خپلواک، منظم، باصلاحیته او د افغانستان د نماینده نظام په حیث کتل کیږي.

چې دا ټول د شهید منصور رحمه الله د «و مقیاس عقله، فعله» مقولې پر بنا د هغه د ابتکار او زیار پایله ده چې له امله یې نن امارت او ملت دواړه د بریا تر پولې رسیدلي ښکاري. ان شاء الله

تر فراه وروسته فاریاب د سقوط په درشل کې

احمد مختار

د مجاهـدینو لخـوا د الخنـدق دښـمن ځپونکـو عملیاتو له پیلیدو وروسته د هیواد په بیلابیلو سیمو کې جهادي فعالیت ګړندی شو چې په نتیجه کې یې ډیرې سیمې د دښمن له لوثه پاکې او د اسلامي حاکمیـت تـر سیوري لاندې راغلې.

الخندق عملیات دقیقا په داسې وخـت کـې پیـل شول چې دښمن په ټول هیواد کې د فوق العاده پـوځي احضاراتو په حال کې و.

ځکه د کابل ګـوډاګي رژیـم د انتخابـاتو لپـاره د نوم لیکنې بهیر هم په همدې شپو ورځو کې پیل شـوی او د دوی ټول امنیتي او کشفي ارګانونه د هغو د امنیـت ساتلو په پلمه په تیارسئ حالت کې اوسیدل.

خو الخندق عملیاتو نه یـواځې د دښـمن دا فـوق العاده امنیتي احضارات وننګول؛ بلکې تر هغه وړانـدې یې د ټرمپ جنګي ستراتیژۍ چې تقریبـا لـس میاشـتې وړاندې یې د مجاهدینو د تضعیف په خاطر پیـل کـړې وه هم نا کاره کړه.

د الخندق عملیاتو محاربوي فعالیـت د هیـواد لـه شمال بدخشان ولایت نه پیل او پـه ډیـرې چټکـۍ سره تـر غـزني، اروزګـان، هلمنـد، فـراه او فاریـاب پـوري ورسیده.

په دغه ګړندې مسیر کې یې چې په یوه اونۍ کې متعـددې ولسـوالۍ لانـدې کـړې پـه تـدریجي ډول د ولایتونو د مراکزو تر لاندې کولو پلان عملي کړ.

د فراه ولایت مرکز ته د مجاهدینو په وردننو کیـد سره یې په سلګونو میله سپکه او درنه اسلحه، شوبلې او یوزیات شمیر پوځي مهمات غنیمت کړل.

په فراه مرکز باندې د مجاهدینو تهاجمي پلان پـه ډیر دقیق ډول عملي شـو او کومـو سـاحو تـه چـې یـې غوښتل ځان ورسوي هغه یې یو په بله پسې- تـر خپلې واکمنۍ لاندې راوستلې.

مجاهـدینو د فـراه پـه مرکـز کـې د رژیـم د مـلي امنیت (استخباراتو) ادارې ته تـر رسـیدو وروسـته هلتـه شـته ټـول جاسـوسي اسـناد تـر لاسـه او لـه ځـان سره

محفوظ ځای ته انتقال کړل ترڅو وکړای شي په راتلونکو تصفیوي عملیاتو کې له هغو څخو لازمه استفاده وکړي.

فراه ته د مجاهدینو په ور رسیدو سره د دښمن په لیکو کې یوه عجیبه ګډوډي اوبې نظمي رامنځته شوه.

د فراه په ښار کې د شمالي ټلوالې اړوند والي بشیر سالنګي له خپلو وسله والو سره د فراه مرکزي لیوا ته وتښتیده.

په کابل کې د کورنیو او دفاع وزارتونو د ویاندویانو او په فراه کې د میشتو دولتي جنګیالو ترمنځ ارتباط قطع او هرڅه یې د بهرنیو ځواکونو د مخابراتي تماسونو په وسیله تر سره کېدل.

د فراه په ښار کې مجاهدین د دولتي قطعاتو له هیڅ ډول مقاومت پرته پوځي مراکزو ته وردننه شول.

که هلته د امریکایي ځواکونو هوایي ملاتړ نه واي نو ټول ښار د مرکزي لیوا، ولایت او قومندانۍ په شمول به په ډیر کم وخت کې د مجاهدینو تر تسلط لاندې راغلی وای.

سره له دې چې دښمن په فراه کې د مجاهدینو د تهاجمي بریدونو په پرشاکولو کې ډیر تبلیغات کوي خو واقعیت دا دی چې فراه مرکز اوس هم د مجاهدینو تر محاصره لاندې او د سپکو وسلو مرمۍ یې د ولایت او امنیه قومندانې تر ودانۍ ور رسیږي.

حتی د فراه ترڅنګ همدا اوس مجاهدینو د فاریاب ولایت مرکز تر خپلې محاصرې لاندې راوستی.

د فاریاب ولایت ټولې ولسوالي بلا استثناء د ولسوالیو له تعمیراتو پرته نورې سیمې ټولې د مجاهدینو تر تسلط لاندې دي.

د کابل رژیم په ولسي- جرګه کې د فاریاب وکیلان وایي که وار له مخه د فاریاب په ولایت کې د میشتو دولتي قطعاتو پوځي تجهیز ونه شي فاریاب حتما د فراه په برخلیک اخته کیږي.

یاد وکیلان وایي چې تر فراه هم د طالبانو د پوځي عملیاتو ډیر تمرکز د فاریاب پر ولایت باندې دی، ځکه هغوی فاریاب ولایت د شمال دروازه بولي او غواړي د فاریاب په نیولو سره په شمال کې خپل شتون نورهم قوي کړي.

د فاریاب پر ولایت باندې د مجاهدینو د محاصرې په راتنګیدو سره هلته میشت قومي اربکیان د دولت رسمي جنرالان او ملي اردو سرتیري په مرګ تهدیدوي.

ټرامپ ته د مډال جوړوونکي انجام!!

عبید ـ تنویر

مهلت او یا استدراج، هغه الهي سنت دی، چې دظالمانو اومستکبرینو په زندگي کې مقرر کړل شوی اودهمدغه الهي سنت اوحکمت له مخې، هغوئ تریوې مودې پورې په دې دنیاکې له ښې دبدبي، وسعت او مالا مالو امکاناتوسره پریښودل کیږي، ترڅو په کفراوگمراهی کې په تدریج سره ورستی پوړی ته ورسیږي اوبیایې په اخیرکې الله تعالی کلک اوسخت رانیسي- او عبرتناکه سزا ورکوي.

الله تعالی په عظیم الشان قران کې فرمایي: «ولایحسبن الذین کفروا انما نملی لهم خیر لانفسهم انما نملی لهم لیزدادوا اثما و لهم عذاب مهین؛ (178) (آل عمران) یعني، گمان دې نکوي، هغه کسان چې کفریې کړی په الله تعالی، چې دوی مونږ پرې ایښي اومهلت مو ورکړی، ددې لپاره چې داکار گواکې دهغوی لپاره خیردی، بلکې مهلت اووخت مو ورکړی، ددې لپاره چې ددغو کفارو اوظالمانو طغیان اوسرکشي، ډیره شي اواستدراج ته ورسیږي اودوی لره بیا شته عذاب اوانجام دردناک!

خبره مو داسلام اومسلمانانودلوی دښمن اووینه زبیښونکي (ټرامپ) اوهغه ته دشجاعت دمډال جوړونکي کوله، څه موده وړاندې داخبرمخي ته راغی چې لوگرولایت ته منسوبو څو تنو کرغیړنو څیرو دامریکایی ولسمشر دستراتیژی او پالیسی دتقدیر اوستایني له امله دهغه په ادرس دسروزرو یومډال جوړاوبیایې په کابل کې دامریکاسفارت ته وروړ

په ړومبی سرکې هرچاته دغه پوښتنه راولاړیده چې دلوگرولایت جهاداوعلم پروره سیمه وگوره اودمسلمانانولوی غلیم ټرامپ ته مډال ورکول ځکه دغسې یوکاراسلامیت څه چې دبشریت له روح سره هم ستره جفااوغداري وه ځکه ټرامپ اوتگلاره یې اسلام څه چې له هرډول

انساني نورمونواوکرامت څخه وینځل شوي اودهرچالپاره شراوهلاکت دی؛ خوورسته په ډاګه شوه چې دغه پلیدعمل له هرډول دیني اوانساني نورمونو څخه دخالی وحشیانو (اربکیانو) کاروو

امریکایانو دخپلو شیطاني اوصلیبي انتقامونو د اخیستلو په نیت له افغاني وجدان او ضمیر څخه دیوشمیر مینځل شووڅیرودلي اوګروپونه دلوګر ولایت په شمول په زیاترو ولایتونو کې جوړکړل چې په ولس کې داربکیانو په نوم وپیژندل شول

امریکایانوپه پیل کې هغوئ ته پریمانه وسلې، رنجنر موټر، لوړ معاشونه اونور استخباراتي تجهیزات په لاس ورکړل، په هغو برسیره یې دهر راز بې بندوباریو اووحشي- کړنو صلاحیت هم ورکړ، چې، نه څوک پوښتنه ورنه کولای شي او نه یې څوک دجنایتونو مخه نیولای شي

ترکومه ځایه چې امریکایي فکر اوسوچ وو، چې په اربکیانو به، لکه دعراقي ملیشو او کردي باندونو، دافغانانو ترمنځ نوی اوربل کړي اومتدین افغانان به پرې وټکوي، دالله تعالی په خاص نصرت اولوریني، داربکیزم امریکایي پروژه، په افغانستان کې له ډیرو سیمو اوولایتونو څخه ډیر ژر ټوله، ورکه اویاهم ښه وځپل شوه، لامل یې داوه چې له یوې خوا داربکیانو په لیکو کې ټول هغه کسان اوافراد راټول شوي وو چې هرچا له خپل کور اوچارپیریال څخه دبدو اعمالو اوکشیفو اخلاقو له وجې شړلي او تجریدکړي وو، له بل لوري داربکیانو، کردار او چلند، یو یو، هیوادوالو دسرپه سترګو ولید، ماخپله له ډیرو خلکو اوریدلي، چې له اربکیانو څخه دغه شنه سترګي کفار هم شرف لري!

نوځکه الله تعالی داربکیانو ناولي ټولي هرځای نابود، درې وړې او سرکرده مشران یې دمجاهدینو دډول ډول تکتیکي ګوزارونو اوعملیاتو خوراک وګرځیدل، څوک له منځه ولاړل اوڅوک په دې دنیاکې له عبرتناکو عذابونو اورنځونو سره لاس اوګریوان شول!؟

په لوګر ولایت کې هم، داربکیانو یو ډیرپلید او وحشي باند موجود وو، چې مشري یې څوتنو معلوم الحاله، مفسدینو، لکه بابه قو، سبزعلی، غفران، فرهاد اکبری، غیاث اونورو..... ترسره کوله، بابه قو دری کاله وړاندې ختم شو، غفران داڅو میاشتې دمخه په یوه تکتکي برید کې له منځه ولاړ، سبزعلی اوقومندان غیاث سره له نورو ملګروسره تیرکال دلوګر ولایت په امنیه قومندانی دترسره شوي فدایي برید په نتیجه کې ووژل شول.

دوی هریو دخپلو ګمراهیو اوله اسلام او مسلمانو سره ددښمنی، ځانګړي یادونه بې شمیره داستانونه اوناولي کیسي لري، چې په لیکلو یې سړي شرمیږي، اوقلم ورنه حیا کوي،

خوداالله پاک په نصرت په لوګرولایت کې داربکیانو نوغی ووت، ځالي یې ړنګي شوي،

مخکښ جنګي کسان يې له منځه ولاړل، پاتې شونوباندې يې نوره ځمکه سره تبې وګرځيده بالاخره يې کورنۍ يې له خپلوکورونواو پلرنيو ټاټوبو څخه کابل ته وتښتيدي.

اوس دلوګر په سطحه داربکيانويوتن مشر- دفرهاد علي اکبري په نوم ژوندی پاتې دی، هغه چې په هر ميدان کې منفور، رټلی اواستفراق شوبل هر شيطانت پرې ودريد نويوځوتنه پرسوده ځيري يې دقومندان (ګل نبی) په شمول راټولي کړي اوپه دې تمه چې څه ډالراوامتيازات پيداکړي اودخپلو بادارانو توجه ځانته جلب کړي نودامريکاولسمشر (ټرامپ) ته يې په اصطلاح دشجاعت مډال د۴۵ زره افغانيوپه بيه جوړکړ اوبيايې دامريکاسفارت ته وروړاوورته تسليم يې کړ.

خوالله تعالی کارونوته ګوره نه داچې ټرامپ پرې غوږوګراوه اوياچاخبرکړاونه دامريکا دکومي رسمي مرجع له لوري ورته کوم مننليک ورکړل شو په کابل کې دامريکادسفارت ودانی ته هم پرينښودل شول سرټيټي اوځوړندستونه بيرته ترينه ستانه شول .

تيره اونی مو واوريدل چې دټرامپ دمډال په جوړولوکې يوتن مخکښ کس دقومندان ګل نبی په نوم دمجاهدينو ديوه چسپکي ماين په زريعه چې په موټرکې يې ورته ځای په ځای کړی وو خپل انجام ته ورسيداووژل شواوس اوس داراپور مخې ته راغی چې دلوګر داربکيانو تښتيدلي مشر (فرهاد اکبري) دقومندان ګل نبي له وژل کيدو ورسته له رسنيوسره په خبروکې ندامت ښودلی له نيويارک ټايمزسره يې په مرکه کې ويلي چې که هغه داسې خبروای چې ټرامپ اوامريکايان داسې بې پاسه اوبې وفاخلک دي نوهغه به هيڅکله مډال ټرامپ ته نه وو ډالی کړی، داربکي په خبره اوس نوموړی هغه شيبي شميري چې څه وخت به يې طالبان دمډال جوړولو په جرم په درني سزا رسوي اووژني به يې.

دعا کوو چې الله تعالی ټولوهغو اتلانو اوغازيانو ته چې دخپلوبريدونو، تکتيکونو او هڅو په نتيجه کې يې اربکيان هدف ګرځيدلي او په سزايی رسولی د جنت لوړي مرتبي اودجهاد ستر اجرونه ولوروي.

دولتي ځواکونو ته

د طالبانو عمومي بښنه د نجات يو غوره فرصت

شاهد (غزنيوال)

د روان کال د ثور د مياشتې په ۲۸ نيټه طالبانو د يوې رسمي اعلاميې په صادرولو سره ټولو دولتي ځواکونو ته د هغوی د وسلې غورځولو په مقابل کې د عمومي بښنې اعلان وکړ.

دا اعلان په داسې مهال کې خپور شو چې تر بل هروخت زيات د ملي اردو او نور دولتي ځواکونه د طالبانو په مخامخ بريدونو کې ډير ووژل شول.

د غير دولتي رسنيو په حواله د الخندق عملياتو له پيله د دغې اعلاميې تر نشر پورې يې چې يوه مياشت لا نه وه پوره شوې تر ۱۰۰۰ زيات دولتي عسکر د طالبانو په بريدونو کې مړه او په زرګونو نور ژوبل شوي دي.

د ګڼ حکومت فاسد چارواکي د دې په ځای چې د خپلو امنيتي سرتيرو د ژوند ژغورلو په لټه کې شي د خپل فاسد واک د بقاء لپاره په خپل منځي اختلافاتو مصروف دي.

امريکايان چې د وروستيو رپوټونو په حواله يې د اپريل په مياشت کې تر ۵۰۰ زيات بمونه پر افغانستان غورځولي همدا مياشت د کابل حکومت لپاره تر ټولو خونړي او له تلفاتو ډکه مياشت وه.

د طالبانو لخوا د ولسوالیو او سيمو د نيولو تسلسل په همدې مياشت کې پيل شو او د امنيتي ځواکونو ډيرى تلفات هم په دې مياشت کې هغوی ته واوښتل.

د دې ترڅنګ امريکايي درنو بمبارىو د ولسی خلګو تلفات هم اضافه کړي.

امريکيان په دې پوهيږي چې د دوي ږندې بمبارۍ او په ځينو سيمو کې پرولسي- خلګو د دوی شپني عمليات لا په افغانستان کې د نا امني

لامل کیږي، خو هغوی دا هرڅه د جګړې جاري ساتلو لپاره په قصدي ډول تر سره کوي .

هغوی قطعا په دې فکرکې نه دي چې د دوي له لوري په پیل کړې جګړې کې څومره د دوي حمایتي افغان ځواکونه وژل کیږي.

افغان داخلي ځواکونه چې یوائې د مادي اجرت په مقابل کې د امریکا نیابتي جګړه پرمخ وړي تر خپل مادي اجرت تر لاسه کولو وړاندې یا د طالبانو د مرمیو او یا هم خپله د امریکایي بمونو هدف ګرځي.

طالبانو د اسلامي همدر دي او د افغاني احساس له مخې یادو ځواکونو ته د یرغلګرو له صفه د راوتلو په صورت کې عمومي بښنه اعلان کړه ، چې یقینا دا بښنه د هغوی لپاره د نجات او ژغورنې یو ښه فرصت دی.

کاشکي دولتي ځواکونه له دغه طلایي فرصت نه استفاده وکړي او مخکې تر دې چې په ذلت او رسوایي سره د یرغلګرو په دفاع کې ووژل شي خپل عادي ژوند ته په راګرځیدو سره خپل ژوند او مستقبل وژغوري.

دولتي ځواکونه د کومې انګیزې له مخې د امریکایي یرغلګرو په دفاع کې د خپل ولس او خلګو په خلاف جنګیږي؟

ایا دوی نه ګوري چې هروخت خپله د امریکایي حامیانو لخوا په بمبار کې وژل کیږي؟

ایا دوی نه وینې چې د دوي مالي استحقاقات د دوي د داخلي چارواکو لخوا غلا کیږي؟

ایا دوي نه ګوري چې کوم حکومت چې دوي یې په دفاع کې ځان قربانوي هغه د نړۍ په کچه فاسد او بیواکه نظام دی.

ایا همدا دولتي ځواکونه د سیګار هغه رپوټونه او اعلامیې نه تعقیبوي چې هره ورځ یې د افغان فاسدو چارواکو د فساد، غلا او اختلاس په اړه خپروي؟

ایا دوی نه ویني چې د همدې فاسد حکومت په دفاع کې تر وژل کیدو وروسته یې جسدونه په شپو او ورځو کې همداسې بې اعتناء پاتې وي ؟

دولتي ځواکونه د طالبانو د عمومي بښنې له اعلانه څخه په استفادې سره باید پر خپلو فامیلونو او اولادونو ترحم وکړي.که دولتي ځوکونه واقعا یو سالم تعقل ولري باید د طالبانو د بښنې له فرمان څخه هم د خپل ځان ، هم د خپلو کورنیو د مستبقل په اړه پروخت استفاده وکړي.

ځکه دا کار تر طالبانو وړاندې خپله دوي ته د نجات او ژغورنې یو تر ټولو غوره فرصت او طلایي چانس دی.

د سعودي اهل خير

حسن مومند

او د امريکا ناکاره ارادې

دا چې سعودي عربستان کې حرمين شريفين او مبارکه روضه شتون لري او دوحي او رسالت اول مقام دی نو دټولې نړۍ دمسلمانانو مينه ورسره طبعي ده؛دنړۍ ټول مسلمانان يې په تاوان او غم دردمن وي او مادي او معنوي پرمختګ يې دټولو لپاره دخوښۍ سبب وي.

دنړۍ دمسلمانانو په زړونو کې چې ددې هېواد کوم مقام دی دا ددې متقاضي دی چې دې هېواد دټولې اسلامي نړۍ مشري کړی وای او داسلامي نړۍ دستونزو په حل کې يې قائدانه رول لوبولای؛شاه فيصل رحمه الله تعالی کې دقيادت دا استعداد موجود و ؛ پدې اړه يې عزايم هم ډېر لوړ وو او ددې لپاره يې ډېر مثبت قدمونه هم پورته کړي وو خو خونخواړې امريکا هغه له منځه يوړو او متأسفانه چې بيا په سعودي عربستان کې دشاه فيصل دفکر پاچا پيدا نه شو.

خو له دې انکار نه شي کېدای چې له کومه نه چې په سعودي عربستان کې تېل راوتلي او دا هېواد بډای شويدی نو دنړۍ دمسلمانانو سره يې ډېرې سترې مالي مرستې کړيدي؛دنړۍ هر ګوډ کې چې مسلمانان هجرت کولو ته اړ شويدي دسعودي دولت او اهل خير دخيريه مؤسسوله لارې دمهاجرينو سره سترې مرستې کړيدي؛دآسيا او افريقا په غريبو هېوادونو کې يې ديتيمانو دکفالت،جوماتونو او مدرسو جوړولو ترڅنګ دخير ډېر ستر کارونه کړيدي او له دې لارې يې په افريقا کې دمسيحيت ددعوت مخه هم نيولې ده.

دسوړ جنګ په زمانه کې امريکايانو نه يوائې دا چې په بهرنۍ نړۍ کې دسعودي په دې ټولو مرستو سترګې پټې کړې وې بلکې دسعودي ډېرې داسې مرستې هم وې چې پخپله امريکا يې ، غوښتونکې وه چې دشوروي اتحاد پرضد زموږ دجهاد پرمهال زموږ سره دسعودي مالي مرستې هم همداسې مرستې وي چې امريکا يې غوښتونکې وه خو کله چې شوروي اتحاد دافغانانو دجهاد په برکت مات او دامريکا په شمول دټول لوديځ اړتيا پوره شوه نو امريکا دخپل بدعادت او ناکاره خصلت سره سم خپله ابن الوقته او مفادپرسته څېره ښکاره کړه؛هماغه خلک چې به يې

مجاهدین او اتلان ګڼل او سپینې مانۍ کې به یې میلمانه کول دسخت دریځو او بنسټپالو په نومونو یې یاد کړل او دهمدې بنسټپالو دمرستو په جرم یې دیو په بل پسې دسعودي عربستان په خیریه مؤسسو بندیزونه لګول شروع کړل او له هرې نه بلې ورځې ته پدې بندیزونو او محدودیتونو کې زیاتوالی راغلو او اوس چې دټرمپ اداري محمدبن سلمان دسعودي دمشرۍ لپاره رامخکې او د شاهي کورنۍ دنورو حلیفانو په مقابل کې یې ترشا ودرېده نو ورنه یې په مقابل کې په سعودي کې دګڼو بدلونو راوستلوغوښتنه کړیده چې له خیریه سترو مؤسسو نه پس دیو دشمېر سترو شرکتونو او اشخاصو په هېواد کې دننه په زکاتونو او خیراتونو بندیز لګول هم پکې شامل دي.

تېر کال چې دمحمد بن سلمان په حکم دشهزاده ولید بن طلال په شمول ګڼ شمېر شهزادګان او لوي سوداګر ونیول شول نو اوس معلومه شوه چې ترشا یې دامریکا همدافشار و ځکه چې دوئ نېږدې ټول داسې خلک وو چې په خیریه کارونو کې به یې له دې وړاندې لویه برخه وه.

پدې لړ کې اوس مهال ولې عهد دسعودي په اهل خیر کې ترټولو لوي او مشهور شخص سلیمان الراجحي ته لاس وراوږد کړیدی.

دسعودي داحتساب پو نوم جوړې شوې اداري چې دولیدبن طلال په شمول دشهزادګانو نه په میلیاردونو ریال واخستل دسلیمان الراجحي نه یې هم د ۱۰ ملیارده ریال غوښتنه کړیده او د نه ورکولو په صورت کې ورته زندان ته دځان چمتو ساتلو ګواښ کړیدی.

ضعیف العمر سلیمان الراجحي ته دا ګواښ او ورنه دا غوښتنه په داسې حال کې شوې چې له دې وړاندې دهغه ځوی؛دالراجحي شرکت منیجر ، په مکې مکرمې کې دهغه له لورې دجوړ شوي ستر مسجد امام هم دولت نیولی او دمنیجر او دهغه دځوی نه داحتساب په اداري کې دالراجحي شرکت دعوایدو په اړه تحقیقات ترسره شوي و او دجومات دامام نه دسلیمان الراجحي دپټو صدقاتو په اړه معلومات ترلاسه شوي وو.

دا چې دشرکت په خیراتي کارونو دالراجحي شهرت کېږي او د شهرت سره دریا خطر زیاتېږي نو الراجحي ډېر صدقات د خپل جومات دامام او نورو همکارانو په لاس په پټه کوي.

امریکا دالراجحي دهمدې پټو صدقاتو په اړه یو اجمالي راپور تیار کړیدی او سعودي ته یې په دې اړه دخبرنو حکم کړی.

دامریکا دولتي ادارو دجاستا په نوم دسعودي پرضد یوه قانوني مسوده تیاره کړې وه چې د ۲۰۱۶ م کال په اکتوبر کې دامریکا د سنا مجلس دا تصویب کړه؛دا چې د۹ ستمبر په پېښه کې ککړو تنانو کې ۱۶ تنانو دسعودي اتباع وو نو ددې قانون له مخې پدې پېښې کې دوژل شویو تنانو ورثانو ته ددې حق ورکړل شوی چې دامریکا محاکمو کې دسعودي ددولت پرضد عارض شي او دسعودي دولت نه دخپل مړي دتاوان غوښتنه وکړي.

پـــدې قـــانوني مســـوده کـــې دســـعودي مدرسې، خیریه اداري او اهل خیر دمجاهدینو سره په مرستو کولو تورن شوي دي.

دامریکا په سناکې د ۲۰۱۶ م کال په مۍ میاشت کې جاسټا تصویب او دمشرانو جرګې ته واستول شو؛ دستمبر په ۹ مې نېټې دمشرانو جرګې تصویب کړ او ولسمشر ته یې دمنظورۍ لپاره ولېږلو؛ ولسمشر بیاهغه د ستمبر په ۲۴ مې نېټې ویټو کړ خو د مشرانو جرګې په اتفاق د ولسمشر ویټو لغوه کړه او جاسټا دامریکا دقانون برخه او دسعودي په سر دتل لپاره زوړنده توره وګرځېده.

دسعودي دباندیو چارو وزیر عادل الجبیر هغه مهال دامریکا ددې پرېکړې په مقابل کې دعکس العمل ښکاره کولو په لړ کې ویلي و چې دامریکا نه به خپل ۷۰ ملیارده ډالر راوباسي.

سعودي فکر کاوه چې پدې کار دامریکا اقتصاد ته ډېر تاوان رسېږي نو امریکا به داقانون لغوه کړي خو امریکا دسعودي پدې ګواښ غوږ ونه ګرولو او دا رامنځته شوی نوی قانون یې همداسې پرېښود.

ویل کېږي چې دابارک اوباما داقتدار پرمهال ۱۶ ایراني الاصله امریکایې مېرمنو په سپینې مانۍ کې پرمهمو پوستونو باندې کار کاوه نو ځکه دبارک اوباما دسعودي په پرتله ایران ته میلان زیات و او همدا و چې دایران داتومي پروګرام په اړه ټرون هم رامنځته شو خو چې د تېر ۲۰۱۷ م کال په جنورۍ کې ټرمپ واک ته ورسېد نو خبره بېخي برعکس شوه دایران سره درامنځته شوي ټرون دماتولو خبرې پیل شوې او دسعودي په اړه پالیسي نرمه شوه؛ سعودي دا دځان لپاره ښه موکه وګڼله او بدبختانه چې امریکا ورنه څه وغوښتل په سرسترګو یې ومنل.

امریکا په همدې وخت کې خپل یو دولتي هیئت تشکیل او دسعودي دخیر په مؤسسو او اشخاصو په اړه یې ورته دځېرنو او معلوماتو راجمع کولو دنده ورکړه؛ دامریکا دې هیئت دسعودي د خیریه ادارو او سونو اشخاصو په اړه دمعلوماتو راټولولو نه پس سپارښتنه کړې وه چې ددوئ دخیریه مرستو نه سخت دریځو ته ګټې رسېږي نو باید بندیز پرې ولګول شي او دسعودي زکات او نورې خیراتي روپۍ باید دامریکا پوهنتونونو، نورو تعلیمي ادارو او سائنسي تحقیقاتي مرکزونو ته وقف شي.

دسعودي ولي عهد محمدبن سلمان چې څه موده وړاندې داحتساب اداره جوړه کړه نو هدف یې دهمدې خیریه ادارو او افرادو پرضد اقدام و خو پلمه یې داجوړه کړه چې دا اداره به د بډایو خلکو او دولتي لوړ پوړو چارواکو په اړه څېړنې کوي.

دیادولو وړ ده چې دټېریو نیم کال راهیسې دسعودي د ۷۰ خیریه مؤسسو په فعالیت ددولت له لورې بندیز لګېدلی دی او دسعودي بډای په لسګونو تنان دپوښتنو او تحقیقاتو په نوم نیول شویدي چې دسلیمان الراجحي ځوی دشرکت منیجر او دجومات امام یې هم په همدې تنانو کې داخل دي.

سلیمان الراجحي خو لا له وړاندې دامریکا ترنظر لاندې دی؛ څو کاله وړاندې هغه دامریکا په رسنیو کې د ۵,۹ ملیارده ډالرو مالک او دنړۍ ۱۶۰ م بډای شخص ګڼل شوی و.

دالراجحي دوقف اداري املاک اوس د ۶۰ ملیارده ریال نه اوړېدلې دي؛ پدې املاکو کې دشرقي سیمې قسیم دنړۍ ترټولو ستر د خرماو باغ هم شامل دی؛ دباغ ۲ سوه زره دخرماونې لري او دنړۍ دترټولو ستر وقف باغ کېدلو امتیازي شان یې په برخه او دنړۍ په لوی کتاب کې نوم لیکل شویدی.

ددې باغ خرما په روژه کې په مسجدحرام او مسجد نبوي کې په سونو زره عمره کونکو او نورو روژتیانو باندې ویشل کېږي چې دا هم دامریکا لپاره دزغم وړنده او دا سلسله بندول یې په شوم پلان کې داخل دي.

پدې تېرو ۷ اوونیوو کې دغاصب اسرائیلي دولت وحشي فوځیانود ۱۴۰ نه زیات عام بې وسلې فلسطیني مسلمانان په ډزو ووژل د ۷ زرو نه زیات یې ټپیان کړل؛ یوائې دمئ په ۱۴ مې نېټې اسرائیلي خونخوارو فوځیانو دغزې ۶۰ نه زیات مسلمانان شهیدان کړل؛ او دا څه دنن او پرون خبره نده بلکې دتېرو ۷ لسیزو راهیسې دمظلوموفلسطیني مسلمانانو پرضد د اسرائیلي وحشي دولت له لورې دالړې روانه ده؛ امریکاداسرائیلو په نوم همدې وحشي ترویست دولت ته نه یوائې داچې هرکال دمرستو په نوم په ملیاردونو ډالرورکوي بلکې دټولو تروریستي فعالیتونو سرپرستي یې هم کوي اوچې دملګرو ملتونو په اداري کې یې دتروریستي فعالیتونوپرضدکوم پرېکړه لیک وړاندې کېږي نوتصویبېدو ته یې نه پرېږدي او ویټوکوي یې .

امریکا اونورلویدیځ ته دامریکا دابدهیڅ په ستر ګونه ښکاري ؛ نه یې په نړۍ کې دچا امنیت ته خطر بولي اونه یې هم دسخت دریځو سره مرسته ګڼي .

خو دعمرې لپاره دنړۍ دګوډ ګوډ نه راغلومسافرو میلمنو باندې که څوک خرماوې اونور خوراکې مواد ویشي ؛ دخپل هېواد نادارو کسانوته زکات ورکوي اوبې وزلوخلکوته په ټانکرونوکې اوبه وروړي نو بشرپالې امریکاته داکارونه ترټولوبدکارونه ښکاري چې دنړۍ امنیت ته لوی ګواښ ګرځي نوورباندې بندیځ ډېر اړین وي.

همدابشرپالنه ده ؛ دا انصاف هم دی اودا بشري نړیوالو اصولوته ژمنتیا هم ده !؟

مسلم یار ته! د ټرمپ لخوا ډالۍ ...

■ ارمان

فضل هادي مسلمیار دا مهال د کابل امریکایې رژیم دمشرانو جرګې رئیس دی، نومورې دننګرهار دچپرهار ولسوالۍ دچینو کلي اوسیدونکی دی، ویل کېږي په ګوندي او تنظیمي حساب سیافی دی او دناټو لوی مفتي سیاف منلی اوګران دی کله چې طالبانو ننګرهار ونیو مسلیمارله هغوی سره یوځای شو او ورته په امربالمعروف ریاست کې یې د موټرچلونکي دنده ورکړه په دې دنده یې ترهغه وخت پورې کار وکړ څو چې دطالبانو حکومت دامریکا دیرغل په نتیجه کې سقوط وکړ.

دطالبانو دامر بالمعروف ددي موټرچلونکي دبخت ستوری هغه وخت راوخوت کله چې امریکا په افغانستان د یرغل ارده وکړه،هغې (امریکا) ته په افغانستان او سیمه کې د یوشمیر داسې کسانو دپیدا کولو ضرورت وو چې هغوی دمادیاتو او شهرت مندلو په بدل کې له هرڅه تیریدلو ته تیار وو او ورته یې دافغانستان دننه او بیرون مخبرې یا جاسوسې کولی شوه هر څوک چې په دې ټول پوره ختل یعنې دډالرو په بدل کې دخپل ایمان او ضمیر پلورلو سودا ورته اسانه کارو ، هغه دکوم قید اوځنډ پرته امریکا دخپل خدمت لپاره غوره کاوه، په تیره دتورې بورې جهت یا استقامت امریکا ته زیات اهمیت لاره، زکه ویل کیدل چې هلته دالقاعده مشر اسامه بن لادن او دهغه ډلې مرکزونه درلودل او دا هم ښکاره ده چې دامریکا دیرغل عمده هدف اسامه بن لادن مندل او یا هغه په شهادت رسول وو،دسي ای اې لخوا په مختلفو ولایتونو او سیمو کې دمخبرې او جاسوسې لپاره پردیپال افغانان وګومارل شول دهیواد په ختیځ کې دنورو ترڅنګ فضل هادي مسلمیار هم ځان د امریکا د مخلصینو په نوملړ کې ځای کړ او په لنډ وخت کې یې دسي ای اې اونورو باور ترلاسه کړ، کله چې امریکایانو دافغانستان په اشغال کې بری ترلاسه کړ ناڅاپه هیواد کې له نورو غربیانو سره یوځای دمسلم یار نوم هم واریدل شو چې په لومړي قدم کې دمشرانو جرګې دمرستیال او بیا یې درئس په توګه غوره شو .

مسلم یار په صداقت سره دامریکا دپیرزوینو حق اداء کړ او دروا و ناروا ترمنځ دتمیز پرته یې دامریکایانو ملاتړ ته دوام ورکړ، دهمدې کلک ملاتړ په بدرګه امریکایانو ته منلی او نیږدي شخص دی کله چې امریکا سره دامنیتي ټرون په نوم دافغانستان دخرڅلاو موقع راغله مسلمیار په پټه او ښکاره تري ملاتړوکړ کله چې دامنیتي ټرون مسوده دتوثیق لپاره مشرانو جرګې ته ولاړه مسلم یار او دمشرانو جرګې غړو په یو غږ سره تایید او توثیق کړه

بل افغانستان ته دداعش پديدې په راوړو کې مسلمیار هغومره وندې لري څومره چې حنیف اتمر او نور... لري دځینو په ګومان له اشرف غني او اتمر وروسته مسلم یارهغه مهم سړی دی چې دداعش پروسې په باب ورسره امریکایانو له پیله معومات شریکول په خاصه توګه دننګرهار په هغو ولسوالیو کې چې داعش شتون لري زیاتره اکملات دمسلمیارپه توسط ورکول کیدل

دټرمپ له لوري دشپینیو عملیاتو او بمباردونو ډیرولو پریکړه مسلمیار وستایله اوټر مپ یې د یو جدی شخص په توګه یاد کړ په دې علاوه په هره مرحله کې چې دامریکا څخه دملاتړ ، غلامۍ او ګوډاګیتوب چانس پیدا شوی مسلمیار ځان دریغ کړی ندی او په وریـن تندي یې دامریکا دغلامۍ لپاره متې رانغښتې

پرون په رسنیو کې داخبر خپورشو چې چپرهار دولت زیو په چینو کلي کې دافغان او امریکا خاصو ځواکونو له لوري په عملیاتو کې دمسلمیار کورنۍ په نښه شوې او دده کاکا په ګډون دکورنۍ اته کسان یې ورته وژلي او همدومره شمیر ټپیان هم دي نو توبه مې وویسته ! دکائناتو څښتنه! څومره قوي انتقام اخستونکی یي! څه موده دمخه چې کله په کندز کې دیوې مدرسې دستاربندۍ په مراسمو امریکایانو بمونه وغورځول او دوه دري سوه حافظان او عالمان یې په شهادت ورسول مسلمیار دمشرانو جرګې دننه ټول وکیلان وګوابښل چې که هریوه دکندز مسئلې په اړه مخالف غبرګون ښکاره کړ پخپل صلاحیت به پرهغوی ټول ډالري نوازشونه وځنډوم هو! دا دخدی انتقام دی ، هغه مسلمیار چې شپه ورځ دامریکایانو په ملاتړ لګیا دی نن خدای دهم هغوی(امریکایانو) په لاس خوار او ذلیل کړ، او هغه اور چې دطالبانو او مجاهدینو دسیزلو لپاره یې بل کړی پکې پخپله دده کورنۍ وسوه هغه امریکا چې دوی ورته دافغانانو دوژلو په اړه د برائت سند ورکړی نن یې عسکر دده په کور ور وختل او لاسونه ددوی په وینو سره دي هغه امریکایان چې دوی ورته خارجي دوستان وایي نن یې دښمنان ګرځیدلي نو مسلمیار او دده ملګرو ته وایو ټینګ شئ دا دپټې سر دی ... تاسو به ژرپوشئ چې داسلام او وطن پرضد دامریکا په ملاتړ دریدل څومره بد ، مکروه او کرغیړن عمل دی

ولې دامریکا تاریخ ته په کتو پوهیږو چې هر کله هم امریکا یوه جګړه بایللې ،هلته یې دخپلې ماتې غچ له لاسپوڅو اخستی ، نن مسلمیار هم په دغه سرنوشت اخته دی هغه ا مریکا چې تل ده ورته د دوست خطاب کړی نن یې دده نیمایې کورنۍ ووژله

بیشکه! دا دمجاهدینو او طالبانو ښیراوو اثر دی چې مسلمیار خدای دومره رسوا او ذلیل کړ چې کورنۍ یې دامریکایانو او دهغوی دغلامو عسکرو د تاړاک تراخه وځکل دا دهغو خلکو لپاره هم دعبرت فرصت دی چې لا هم دامریکا په ملاتړ ولاړدي باید سبق واخلي اوپوی شي چې امریکا هیڅکله دوی دوست نه بلکې ازلي دوښمن دی هغه خامخا دناکامۍ په غچ کې خپل لاسپوڅي وژني دډیرو په اند دا مسلمیارته په حقیقت کې دټرمپ دپالیسۍ او تګلاړې لومړی ارمغان دی چې ده په ډیرو تودو احساساتو دهغه دجنګي تګلاړې هر کلی کړی وو نن د هم هغو امریکایانو دټوپک شپیلۍ ددوی په لور دي کومو ته چې دوی قضائي مصونیت ورکړی .....

القدس کې د امریکا سفارت او یوه بله (نکبه)

حسن زوی

دمظلومـو فلسـطيني مسـلمانانو ۷۰ کلـن تـاريخ کـه مطالعـه شي نـو پـه اشـغال شـوي فلسطين کـې پرفلسـطيني مسـلمانانو هره تېره شـوې دمظلوميـت ورځ يـوم نکبـه ده خـو فلسطينيان چې کومه ورځ په يوم نکبه بولي اوديوم نکبه په نوم يې لمانځي دا هغه ورځ ده چې دفلسطين داوسني او راتلونکو نسلونو لپاره هيڅکله هم دهېرولو نده؛ دا هغه ورځ ده چې پکې داسرائيلو پـه نـوم غاصـب او نـا قانونـه خونخـوار دولـت دفلسـطيني مسـلمانانو نـه پرقبضه شوې ځمکه رامنځته او په همدې يوې ورځ کې ۸ سوه زره فلسطيني مسلمانان دخپلو کورونـو نـه وويسـتل شـول، چـې د اوږدې دربدرۍ نه پس دفلسطين ګاونډيو هېوادونو مصر، اردن، شام او لبنان تـه پـه هجـرت کولـو مجبورشـول او ۷۰ کلونـه پـس هـم ترننـه دا فلسطينيان او ددوئ دريم نسل ددې هېوادونو په مهاجر کمپونوکې دفقر، خـواري اومشـقت نـه ډکې دهجرت شپې ورځې تېروي.

دا د ۱۹۴۸ م کال دمئ مياشتې ۱۵ مه نېټه ده چې پـه فلسـطيني تـاريخ کـې پـه يـوم نکبـه يانې دفلسطيني تاريخ د لويې تباهۍ او بربادۍ توره ورځ ګنل کېږي چې يو لورتـه پـردې خـاورې دصهيونستانو تسلط رامنځته شو او بـل لـور تـه دومره لـوړ شـمېر فلسـطينيان لـه خپلـو کورونـو وويستل شول.

دفلسطين مظلوم مسلمانان هرکال دسترو مظاهرو په ترڅ کـې دا ورځ دتـورې ورځ پـه نـوم لمـانځي تـر څـو ددوئ دحقوقـو د ترلاسـه کولـو لپاره دنړيوالې ټولنې توجو راجلبه او بېرتـه هغـو کورونـو تـه ددوئ راستنېدلو تـه لار برابـره شي چې نن يې هم ۹۰ کلنو فلسطيني مينډو له ځـان سره کونجې ګانې ساتلي دي او کومو چې لـه دې نړۍ سترګې پټې کړيدي هغوئ خپلو پاتې نسـلو نو ته داکونجي ګانې پـدې هيلـه ورکړيـدي چـې ګوندې يوه ورځ نه يوه ورځ دا وروستي نسـلونه دې کورونوته ورستانه شي.

دټېرهرکـال پـه ټېـر داځـل د۲۰۱۸ م کـال یوم نکبه هـم فلسـطیني مسـلمانانو لمانځـلـه او دنړیوال احساس دراویښولو پـه موخـه یـې چـې خـورا پـه ډېـرې لـوړې پیمانـې احتجـاج کـاوه نوورانـدې پـه ډېربـې سـاري ډول وحشـت رامنځتـه شـو او پـه نړۍ کـې دبشر- دحقوقـو د ساتنې اتلې امریکا ښه په سپین سترګې دا پـه ډاګه کـړه چـې لـه ټېـرو ۷۰ کلونـو راهیسـې چـې دفلسـطین پرپـاکې خـاورې پـه لویـه پیمانـه دبشرحقوق داسرائیلي وحشي فوځیانو تربوټونو لانـدې کېـدل ددې ټـول وحشـت سرپرسـتي امریکا په خپله غاړه اخستې وه اونـن یـې دا پـه ډاګه کړه.

دټېـرو ۷ اوونیـوو راهیسـې دفلسـطین مظلـوم مسـلمانان فلسـطین تـه دفلسـطینیانو دبېرته راستنېدو غوښتنه کوي.

دغاصب اسرائیلي دولت له لـورې دغـزې او لویـدیځې ټرانګـې تـرمنځ دجـبرودرول شـوي دیوال ته دغزې مظلـوم مسـلمانان راټـول دي او دټولـو یـواځې یـوه غوښـتنه او نـاره ده چـې فلسـطین تـه راسـتنېدل! او القـدس تـه راستنېدل!

خـو ددې غوښـتنې او نـارې پـه مقابـل کـې دمـارچ د ۳۰ مـې نېټـې نـه وحشي- اسرائـیلي فوځیانو پرهمـدې فلسـطیني لاریـون کونکـو بـې رحمانه ډزې پیل کړې؛ تمـه کېدلـه چـې نړیوالـه ټولنه به داسرائیلو ددې وحشت پـه مقابـل کـې غبرګون وښایې خومتأسفانه چې نړۍ ددې ټـول حالت نندارە کولـه او وحشي- اسرائـیلي فوځیـانو پـه ۷ اونیو کې له ۷۰ زیات فلسطینیان شـهیدان او له ۷ زرو زیات ټپیان کړل.

خو دمـې پـه ۱۴ مـې نېټـې دامریکـا پـه سر پرستۍ کې دوحشي اسرائـیلي فوځیـانو وحشـت بیخي سترو؛ پـدې نېټـې امریکـا دتـل ابیـب نـه القدس ته خپل سفارت انتقـالولو او دټولـو بـین المللـي اصـولو خـلاف یـې القـدس داسرائیلـو دپلازمینـې پـه صـفت عملاً اعلانولـو چـې ورسره دمخالفت ښکاره کولو او دبین المللي اصـولو دې مخـالف کـار دمخنیـوي لپـاره لازیـات فلسـطیني مسلمانان دجبر دیوال تـه راجمـع شـول او ددې ناوړه عمل پرضد یې نارې پورته کړې.

هلتـه پـه القـدس کـې دامریکـا دسـفارت دپرانسـتې مراسـم روان وو؛ دټرمـپ لـور او یهـودي زوم یـې دصهیونسـتانو پـه مـنځ کـې دخوښۍ چکې وهلې او دلته وحشي اسرائیلیـانو پرتش لاسو فلسطیني مسـلمانانو دګولیـو بـاران پیل کړی و چې په لږه شیبه کې یـې دکوچنیـانو او مېرمنو په شمول ۶۰ تنـان شـهیدان او ټپیـان کړل.

هغه امریکا چې په نړۍ کې دبشر دحقوقو چغې وهي او سترې دعوې کـوي دمـې پـه ۱۴مـې نېټـې یـې دمظلومـو فلسـطینیانو پرجسـدونو دخپـل سـفارت ودرولـو لـه لارې ټـولې نـړۍ تـه ښکاره کړه چې په وړاندې یې دکمـزورو ولسـونو دځانونو هیڅ ارزښت نشته او پدې اړه یې ټولې خبرې او دعوې غولونکې او له نفاق نه ډکې دي.

ټرمپ پردې دومره ستر وحشت نه يواځې داچې سترګې پټې کړې بلکې دا يې داسرائيلو ددفاع حق وګڼلو او شهيدان شوي او ټپيان مسلمانان يې پره بلل.

په القدس کې دسفارت خلاصولو او بيا په همدې ورځ داسرائيلو دستر وحشت دتائيد له لارې که امريکا له يولوړې دوحشي- اسرائيلو د ۷۰ کلن وحشت دسرپرستۍ اظهار وکړ نو بل لور ته يې دنړۍ دټولو مسلمانانو او په ځانګړې ډول اسلامي خوځښتونو ته دذهني کوفت رسولو هڅه وکړه او ښه په روښانه ټکو يې داپېغام ورکړ چې دښمني يې ورسره ښه جوړه ده او جود يې دځمکې پرمخ يو ځای کې هم دزغم وړندی.

بيت المقدس ته دسفارت دانتقالولو له لارې امريکا په خپل زعم کې ددې ښار اسلامي حيثيت او مقام له منځه يوړو؛ بېرته خپل پلرني ټاټوبي ته د سونو زرو فلسطيني مسلمانانو دراستنېدو امېدونو پر وړاندې يې يوبل خونخوار حائل رامنځته کړ اوپخپله امريکا چې داسرائيلو ترڅنګ دازاد فلسطيني دولت درامنځته کېدلو غوښتونکې وه په خپل اوسني اقدام يې دازاد فلسطيني دولت دا هيلې هم کمزورې اوپدې اړه يې هم خپل منافقت ښه روښانه کړ.

او که خبره دنړيوالې ټولنې او په ځانګړې ډول دملګروملتونو دادارې وکړو نو داروښانه خبره ده چې امريکا ددې ادارې پربکړه ليک په ډېر غرور ترپښو لاندې او ددې ادارې سخت توهين يې وکړ.

تېر کال دملګرو ملتونو په جنرال اسمبلۍ کې يو پربکړه ليک تصويب شوی و چې د ۱۹۳ هېوادونو له جملې نه ۱۲۸ هېوادونو دامريکا پربکړه رد کړی او داسرائيلو دپلازمېنې په صفت يې دبيت المقدس له منلو انکار کړی و.

دبرتانې، فرانسې، او المان په څېر دامريکا مهم اتحاديان هم پدې ۱۲۸ هېوادونو کې شامل وو خو امريکا ددې دومره سترې نړۍ دمخالفت او دملګرو ملتونو دادارې دحيثيت هيڅ پروا ونه ساتله؛ ددې ادارې دغړو دقاطع اکثريت له مخې تصويب شوی پربکړه ليک يې پردېوال وويشت او ښه په غرور يې دمئ په ۱۴ مې نېټې په بيت المقدس کې په داسې حال کې خپل سفارت پرانيست چې وحشي اسرائيلي فوځيان د فلسطيني مسلمانانو په قتل عام اخته وو.

رښتيا دا ده چې امريکا پدې اقدام دټولې اسلامي نړۍ سره خپله دښمني ښکاره او ټوله اسلامي نړۍ يې خپله دښمنه کړه او دتاريخ يو نوی تورباب يې پرانست.

دمحترمو لوستوالو په علم کې به وي چې القدس يا بيت المقدس په دوه شرقي او غربي برخو ويشل شويدی؛ غربي برخه يې اسرائيلو د ۱۹۴۸م په جنګ کې قبضه کړې وه او شرقي برخه يې په ۱۹۶۷ م کې دعربو او اسرائيلو ترمنځ درامنځته شوي جنګ په نتيجه کې ترخپلې قبضې لاندې راوسته.

په ۱۹۸۰ م کې اسرائیلو ټول بیت المقدس دخپلې پلازمینې په صفت اعلان کړ خو دامریکا په ګډون ټولې نړۍ د اسرائیلو ددې پریکړې سره خپل مخالفت ښکاره کړ چې دټرمپ تر راتللو دامریکا هر ولسمشر دمخالفت په همدې پریکړې ټینګ پاتې شو.

ربښتیا چې فلسطیني مسلمانانو په تشو لاسونو دبیت المقدس دازادۍ لپاره ډپره اوږده مبارزه وکړه؛ القدس تل په فلسطین کې دراپورته شویو انقلابي تحریکونو او هرې انتقاضي عنوان ګرځېدلی خو صهیونیزم ته له حده زیات وفادار دامریکا اوسني ولسمشر ټرمپ چې دتېر ۲۰۱۷م کال ددسمبر په ۶ مې نېټې القدس داسرائیلو لپاره دپلازمینې په صفت ومانه نو مظلومو فلسطینیانو په ډېر لوړ احساس دانتقاضې یو نوی تحریک پیل کړ چې تراوسه پدې تحریک کې ۱۴۰ فلسطیني مسلمانانو خپل سرونه قربان کړل او په زرونو ټپیان شول خو چې اسلامي نړۍ او په ځانګړې ډول داسلامي کانفرانس په نوم داسلامي نړۍ ګډ تنظیم پدې اړه مناسب غبرګون ښکاره نکړ نو خبره دې ته راورسېده چې دادی امریکا په بیت المقدس کې خپل سفارت هم پرانست.

امریکا او اسرائیل باید پدې پوه شي پریکړې اواقدامات یې خورا له تاوان نه ډک دي اوقبضه به یې په یو صورت کې هم دوام ونه مومي.

د تاریخ په اوږدو کې القدس دوه له منځه وړل شوی؛ ۲۳ ځل محاصره شوی؛ ۵۲ کرته دستروجنګونو ډګر ګرځېدلی؛ ۴۴ ځل قبضه شوی اوبیا آزاد شوی؛ هرځل اشغالګر له شرمه ډکې ماتې سره مخامخ شوي اووروستۍ فتحه ددې داصلي وارثانویاني فلسطیني مسلمانانو په برخه شوی.

اوس هم فلسطینان په لوړعزم اوډېر جرأت دالقدس دآزادۍ لپاره جنګېږي؛ ددوئ ددې لوړو عزایمو په مقابل کې به هیڅکله هم بزدله امریکا ټینګه نه شي اوهغه ورځ به خامخاراشي چې امریکا به دډېر ذلت سره یوځای له القدس نه کډې بارکړي اوبیابه په عمر دالقدس نوم وانخلي.

انشاءالله تعالی

لاسپوڅي اردو

د ولسي شتمنيو چوراو چپاول ته مخه کړي!!

خبيراحمدم

له نيږدي يوې اونۍ راهيسي په مسلسل ډول داراپورنه مخي ته راځي چې دکابل دلاسپوڅي رژيم اسلام اوهيوادډښمنه اردو او مليشو دهيوادپه بيلابيلوسيمو او ولايتونو کې ديوه جوړ شوي پلان له مخي دعام ولس دنورځور او اذيت ترڅنګ دهغوئ دشتمنيو او هټيو چور او چپاول، سوځولو او دکورونو نړولو ته مټي بډو هلي اودغه جنايتونه په زياتي بې رحمي سرته رسوي.

دامريکايانودغه روزل شوی شيطاني لښکر چې کله دهيوادپه کومه سيمه کې له درانه شکست اوزيان سره مخ شي، مهم مراکز يې مجاهدين فتح کړي اويايي بې شميره عسکردجهنم کندي ته وليږدول شی؛ نو بيا دتيښتي اوفرارپه مهال مسکوني سيمي په توپونو او هوانونو ولي، يايې بازارونه او هټی سوځي اوچور کوی يې اويادعاموخلکو کورونه اوجونګړي دماينونواوباردوپه زريعه لدې املې اواروي چې ګواکي دلته له مجاهدينوسره مرسته شوي او په دې کورنوکې مجاهدين اوسيدلی

له تيري يوې اونۍ راهيسي دبغلان دتالابرفک په سيمه، دننګرهار دغني خيلو دګولايی په کلي، دلوګر دمحمداغي ولسوالی په

مربوطاتو او همدارنګه دهلمند، کندهار، غزني اونورو ولایتونو په ګډو برخو کې دلسګونو ولسي وګړو کورونه اوهټۍ امریکایي اردو ډومبۍ چوراوچپاول کړي بیایې ترینه شاوخوامایتونه خښ کړي اومنفجر کړي یې دي

دغه ډول جنایتونه دروسانواوکمونیستي رژیم خاصو ملیشو چې ګلم جمان اویاجبار ملیشي به یې ورته وئیلي کټ مټ سرته رسول، هغوئ به چې په کومه ساحه یرغل وروړاوچې وبه پوهیدل چې پرمختګ نشي کولای نودبیرته تګ او تیښتي په مهال به یې دخلکوشتمنیوته لاس واچوکوم اموال اواجناس به یې چې وړلای شوهغه به یې په ټانګونوکې واچول پاتی ته به یې اورونه واچول اویابه یې هغومسکوني سیموته دخپلو توپونو او هوانونو خولي برابري کړي او قیامت به یې پري جوړکړ.

امریکایان اوروزل شوي مزدوره اردویې که دافکرکوی چې دکمونیستانواوګلم جمانوتجربي تکرارکړي اودعامو خلکو دشتمنیوپه غلا اولوټلو اودکورونو په نړولو به افغانان له خپل عزم اوله مجاهدینو سره له خلوص راوګرځوي په دغه شوم فکراوپوچ هدف کې به هیڅکله برلاسي اوکامیابي ترلاسه نکړي، بلکې نوربه دولس له کرکې اونفرت سره مخ کیږي او دمجاهدینو دپاکي داعیي دتقویت لامل ګرځي

له بل اړخه که اجیررژیم خپلو دغو جنایتونو ته دوام ورکوي اوعام ولس په دې پلمه ټکوي او شتمنیو ته یې زیان وراړوي چې ولي دوئ له مجاهدینو سره خواخوږي لري نوبیادې دامریکا تالیځپې په دې خبره ځان پوه کړي چې دکابل رژیم دمهموغړواوامریکایي جواسیسوپراخ جایدادونه، کورونه اوهرډول شتمنی؛ دمجاهدینوترتسلط لاندي سیموکې شتون لري نوبیابه مجاهدین هم بالاخره دخپل ولس ددفاع اوخوندیتوب په خاطر اړکیږي چې ددوئ دشتمنیوپه اړه هم مناسب تصمیم اوپریکړه وکړي!!

دا اسلام غزوات او سرایا

د خیبر غزا

...په تیر پسې

ابوظهیر

غنیمتونه ویشل:

دخیبرپه غنایمو کې سره او سپین(زر) نه وو،غوایان،اوښان او څه نور توکي وو خو ترټولو لوی غنیمت دخیبر زمکې او باغونه وو، په زمکو علاوه چې کوم توکي او سامانونه وو هغه ټول رسول الله ﷺ دقرآني نص سره سم په غانمینو وویشل او زمکه یې یواځې پر هغو مجاهدینو وویشله چې په حدیبیه کې یې ګډون کړی وو (روض الانف ۲ټوک ۱۴۶مخ)

دحدیبې عمرې په اراده رسول الله ﷺ چې کله د مدینې منورې څخه ووت ،اعرابیانو ته یې هم ور سره دتلو بلنه ورکړه،ځکه رسول الله ﷺ سره دا اندیښنه وه چې د بدر ، احد او احزاب جنګونو له امله هسې هم دمکې خلکو زړونه مسلمانانو ته له کینې او عداوت نه ډک دي ، په دې وجه مکې مکرمې ته د دوی د ننوتو په سر جنګ پیښ نشي او یا ممکن هغوی (دمکې خلک) مکې ته د دوی ننوتو په مخکې مانع وګرځي، په دې وجه دا دعقلي تدبیرغوښتنه وه چې ځان سره ډیرخلک بوځي؛ څو دقریشو له لوري دکوم شر د ګوابښ یا خطرسره مخ نشي، ډیری اعرابیانو درسول الله ﷺ دعوت قبول نکړ، دهغوی لوی شمیر دخپلو مصروفیتونو بهانه وړاندې کړه او کوم چې مخلصین وو او زړونه یې له ایمان ډک وو هغوی درسول الله ﷺ سره روان شول ، حدیبې ته څیرمه درسول الله ﷺ او دصحابه وو مخه ونیول شوه او په پای کې دمغلوبانه صلحې صورت رامنځته شو ، په کومه باندې چې هغوی صبر وکړ او اخلاص یې ښه مدلل او مبرهن شو،الله تعالی دهغوی په ماتو زړونو ملهم کیښود او ورته یې دخیبر دفتح زیری ورکړ، چې ژربه تاسو خیبر فتح کړئ او داحکم یې نازل کړ چې دخیبر غنایم به دحدیبې مجاهدینو لپاره خاص وي نورو ته به پکې برخه نه ورکوئ (ازالة الخفاء للشاه ولي الله ۱ټوک ۳۸مخ)

که تفصیل غواړئ دتفسیر کتابونو کې دفتح سورة تفسیر وګورئ

اوس پاتې شوه داچې دخیبر غنایم څه ډول وویشل شول؟ په دې اړه سنن ابو داود کې راغلي: دخمس (پنځمې) ویستلو وروسته خیبر زمکه یې په ۳۶ سهمونو وویشله پکې اتلس سهامه یې جلا کړل دمسلمانانو د اجتماعي ضرورتونو لپاره چې هغه یې په مجاهدینو ونه وویشل، پاتې اتلس سهمه یې په مجاهدینو وویشل او په هر، هر سهم کې یې سل، سل تنو لپاره برخې مقرر کړې، کومې چې دالله تعالی د ارشاد سره سم یې دحدیبې مجاهدینو ته ورکړې

دخیبر دزمکو هغه نیمایې برخه چې تقسیم نشوه دالکتیبه ، الوطیح ، السلالم او ورسره نښتې زمکې وې

اوکومه نیمائي برخه چې دحدیبې په مجاهدینو وویشله په هغه کې دالشق او النطاة او ورسره ملحقه زمکې وې .

داروایت په سنن ابي داود کې دسهل بن ابی حثمه صحابي څخه موصولاً او دبشیر بن یسار تابعی نه مرسلاً مروي دی (ابوداود ۲ټوک ۴۲۵مخ، هم دا راز بذل المجهود ۴ټوک ۱۴۵مخ)

امام طحاوي رح وایي: چې رسول الله ﷺ دخیبر ټولې زمکې ونه ویشلې یواځي دشق او نطاة او دهغو سره نښتې زمکې په مجاهدینو وویشلې نورې ټولې زمکې یې دمسلمانانو دمصالحو لپاره خوندي کړې (شرح معانی الاثار ۲ټوک ۱۴۴مخ)

اوس پاتې شوه داچې اتلس سهمونه یې څنګه وویشل؟ په دې لړ کې مختلف روایتونه شته، مشهور روایت دی : ټول ۱۴ سوه کسان او ۲ سوه اسونه وو، ۱۴ سوه کسانو ته څوارلس سوه سهمونه ورسیدل زکه په یو سهم کې سل کسان شریک وو او دامام مالک او امام شافعي او امام احمد اونورو علماوو په نزد دسپاره نه علاوه د یو اس لپاره دوه برخې ورکول کېږي ځکه چې د دوه سوه اسونو لپاره یې څلور سهامه ورکړل دڅوارلسو سهمونو سره دڅلورو سهمونو په یوځای کولو اتلس جوړیږي

او په سنن ابي داود کې دمجمع بن جاریه رضی الله عنه نه روایت دی چې په خیبر کې دلښکر شمیر پنځلس سوه تنه وو ،پکې درې سوه سپاره وو، رسول الله ﷺ هر سپاره ته دوه، دوه برخې ورکړې او هر پلي تن ته یې یوه، یوه برخه ورکړه (بذل المجهود ۴ټوک ۱۴۶مخ)

دا روایت دامام اعظم ابو حنیفه رحمه الله دمسلک سره برابر دی دهغه په نزد دسپاره مجاهد دوه برخې وې یو دسورلی او بله دهغه خپله؛ څنګه چې له حضرت علي رضی الله عنه او ابو موسی اشعري نه روایت دی

نو ددي حساب له مخې: پنځلس سوه کسانو څخه د درې سوه سپارو لپاره شپږ سهام شول ا و په هر سهم کې سل کسان شریک شول او دپاتې دولس سوه کسانو لپاره دولس

سهام په برخه شول ، دولس او شپږ چې یوځای شي اتلس جوړیږي

ځیرنه:

قال ابن الملک هذا (حدیث مجمع بن جاریة) مُستَقیم عَلَی قَولِ مَن یَقُولُ لِکُلِ فَرَسٍ سَهمَانِ لِاَن الرّجالَةَ عَلی هذِهِ الروایَةِ تکُونُ الفاً ومائتَین وَهُم اثنا عَشر۔ سَهماً لِکلِّ مائةِ سَهم وللفُرسَان ستة اَسهُم لِکُلِ مائةٍ سهمان فَالمَجمُوعُ ثمَانِیة عشَر سَهَماً وآمّا علی قول من قال للفارسِ ثَلَاثة اَسهُم فَمُشکَلٌ لِاَنّ سِهام الفُرسَان تسعةٌ وسِهَامَ الرّ جَالَة اِثنا عشَر۔ فَاالمَجموع احدٌو عشرون سَهماً انتهی کلام العلامة القاری.

حاصل داچې رسول الله ﷺ دخیبر دزمکو نیمایې برخه دحدیبې په مجاهدینو وویشله او دهغوی پرته پکې نور چا ته یې برخه ورنکړه خو داحادیثو څخه معلومیږي چې دخیبر دفتح وروسته ا صحاب سفینه یعنې حضرت جعفر طیار، حضرت ابو موسی اشعري او دهغوی نو رملګري چې شمیر یې له سلو ډیر وو دحبشې څخه راغلل رسول الله ﷺ هغوی ته هم پکې څه نه څه برخه ورکړه

لیکن دا ښکاره نده چې هغوی ته یې داصل غنیمت څخه برخې ورکړې او که دغنیمت مال دخمس (پنځمې) څخه یې ورکړې اوکه دمنقوله مالونوڅخه یې دتقسیم نه وړاندې داعانت په توګه ورکړې او داچې رسول الله ﷺ پخپله رایه ورته ورکړل او که دغانمینو او مجاهدینو په اجازت یې ورکړې . والله اعلم (فتح الباري وشرح شیخ الاسلام دهلوی ، عمدة القاري ۷ټوک ۱۴۷مخ ، قسطلاني ۵ټوک ۲۰۰۔۲۰۹مخ)

په خیبر غزا کې یو شمیر میرمنې هم دمجاهدینو دخدمت او اعانت لپاره لاړې وې هغوی ته رسول الله ﷺ داعانت په توګه په خیبرکې دترلاسه شویو توکیونه څه ورکړل او په زمکو کې یې هغوی ته دنارینه وو پشان برخې ورنکړې ځنګه چې دابوداود، ترمذي او نسائي له روایت ښکاره کیږي (البدایة والنهایة ۴ټوک ۴۰۴مخ)

انصارو ته دهغوی امانتو بیرته سپارل:

دخیبر دفتحې وروسته مهاجرینو انصارو ته هغه باغونه او زمکې چې دمکې مکرمې څخه دهجرت په پیل کې یې مهاجرینو سره دکومک او مرستې پخاطر ورکړي وو (چې په هغو کې په کار کولو سره هغوی ځانوته هم ګټې ترلاسه کولې او دوی(انصارو) ته یې هم یوڅه دنفع په توګه ورکول) هغه ټول یې بیرته انصاروته وسپارل

ځکه دخیبر دفتح وروسته مهاجرین له کومکونو او مرستو مستغني شول ،په دې توګه یې دانصارو زمکې او باغونه هغوی ته بیرته وسپارل دحضرت انس رضی الله عنه مور اُم سُلیم هم رسول الله ﷺ ته څو ونې ورکړې وې ، رسول الله ﷺ هغه (داُم سُلیم

ونې) اُم ایمن یعنې داسامه بن زید مور ته ورکړې وې

کله چې مهاجرینو لخوا دانصارو ونې او زمکې او باغون هغوی ته واپس شول نو اُم سلیم هم درسول الله ﷺ څخه دخپلو ونو د بیرته ورسپارلو غوښتنه وکړه (کومې چې رسول الله ﷺ ام ایمن ته ورکړې وې) رسول الله ﷺ اُم ایمن ته وویل: داُم سلیم ونې بیرته ور وسپاره!

اُم ایمن یې له سپارلو څخه انکار وکړ او دانس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په غاړه کې یې ټوټه واچوله ، رایې ښکله وي ویل:

په خدی سوګند دا ونې به هیڅکله درته ونه سپارم

داچې اُم ایمن درسول الله ﷺ خاضنه وه او دپلار وینځه یې وه په دې وجه رسول الله ﷺ دهغې خپګان نه غوښته رسول الله ﷺ وفرمایل:

ای اُم ایمن ته ونې وسپاره او په بدل کې یې نورې ونې واخله !

رسول الله ﷺ پرلپسې هم دا فرمایل تردي پورې چې دخپل خاص جایداد څخه یې هغې ته دیوې ،یوې ونې په بدل کې لس لس ونې ورکړې نو ایله راضې شوه رسول الله ﷺ هغې سره نرمې په دې وجه کوله چې په کوچنیوالي کې یې درسول الله ﷺ پالنه او روزنه کې کړې وه رسول الله ﷺ دهغې دخضانت او تربیت حق ته په پام ور سره نرمه معامله وکړه

مسائل او حکام:

په دې غزوه کې دحرامو او حلالو په اړه چې کوم احکام نازل شول یا پکې کوم مهم مسائل رامنځته شول دامت فقهاوو دهغونه کوم مسائل مستنبط کړی په اجمالي ډول دادي :

په محرم الحرام کې قتل:

وړاندې معلومه شوه چې رسول الله ﷺ خیبر ته په محرم الحرام میاشت کې وتلی و ، په دې سره معلومه شوه چې په محرم کې قتل وقتال ممنوع ندی او دکومو ایاتونو او احادیثو څخه چې دقتال دممانعت مفهوم راوځي هغه منسوخ دي که تفصیل پکار وي نو [یسئلونک عَنِ الشّهرِ الحَرامِ قِتَالٍ فِیه] او دتوبه سورة ایت [مِنهَا اَربَعَة حُرُم] تفسیر مطالعه کړئ

۲ــ دزمکو ویش:

وړاندې معلومه شوه چې رسول الله ﷺ دخیبر ټوله زمکه په غانیمینو ونه ویشله بلکې یواځې د الشق او النطاة سره ملحقه زمکې په هغوی (مجاهدینو) وویشلې او دالکتیبه ، الوطیح او دالسلالم ملحقه زمکې یې دمسلمانانو داجتماعي اړتیاوو او مصالحو لپاره خوندي کړې نومیالی محدث او سیرت پوه مولانا محمد ادریس کاندهلوي رَحِمَهُ اللَّهُ لیکلي : له دې څخه معلومه شوه چې دمسلمانانو امیر ا

ختيا رلري چې په مفتوحه زمکه کې هر ډول مصلحت غوره و بولي هغسي اجرأت وکړي که په مجاهدينو يې ويشي۔ او که دهغه ځای میشت خلکو ته يې په واک کې ورکړي او پرې خراج و ټاکي دامام ابوحنيفه، امام مالک او دصاحبينو او دسفيان ثوري هم دا مسلک دی

دامام شافعي مذهب دادی چې د منقوله مالونو پشان زمکې هم په مجاهدينو ويشل ضروري دی او شوافع دخيبر دزمکو په باره کې دا تاويل کوي چې دخيبر له نيمائي زياته برخه په جنګ فتح شوه او نيمه يې په صلحه فتحه شوه په دې وجه يې تقسيم نکړه خو په ټولو روايتونو ، احاديثو او سيرت کې داتصريح شتون لري چې تول خيبر دنهايتی سخت جنګ او قوې مقابلې وروسته فتحه شو کله چې يهود دجنګ او مقابلې څخه پاتې شول نو مجبورشول چې دخپلو کلاګانو څخه رابهر شول او دخپل هرډول واک او حقوقو څخه لاس په سرشول او په دې راضي شول چې په باغونو اوزمکو کې به دوی هيڅ حق نلري او يواځې دمزدورانوپشان پکې کار کوي او هم تر څوچې مسلمانان غواړي دو ی به پکې ميشت وي او هرکله چې وغواړي زمکې تري بيرته اخستلی شي نو بيا وروسته دحضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دخلافت په دوره کې د هغوی څخه ټولې زمکې بيرته واخيستل شوې او جلا وطن کړای شول ،نو معلومه شوه چې خيبر په جنګ فتح شوی او هغه څه چې د ځينو اکابرو لکه امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ له کلام څخه معلو مبږي چې دخيبر نيمه برخه قهراً او نيمه يې صلحاً فتح شوې دهغې معنی داصطلاحي صلحې نده بلکې تري مراد دادی چې په پيل کې يهودانو مقابله او مقاتله وکړه وروسته چې کله په مقابله کې ناکام شول وسله يې وغورځوله او دجنګ پای ته رسولو غوښتنه يې وکړه له دغه؛ نه جنګ کولو څخه ځيني علماوو د صلحې تعبير کړی يعنې نيمائي خيبر په جنګ سره فتح شوی او نيمايي پرته دجنګ څخه، ددې مسئلې دتحقيق لپاره کې تفصيل څوک ګوري ازالة الخفاء للشاه ولي الله احکام القرآن للجصاص او شرح معانی اثار للطحاوي باب مايفعل الامام بالارض المفتوحه ته رجوع وکړئ هم دا راز تيسير القاري وشرح شيخ الاسلام ته هم مراجعت وکړئ (تيسير للقاري ۳ټوک ۱۵۸مخ)

۳ـ دخيبر ممنوعات:

خيبر کې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څو څيزونه ممنوع وګرځول

۱ـ داهلي (کورنيو) خرونو غوښې يې منع کړې

۲ـ غنيمت مال چې څو نه وي ويشل شوی ترهغه به يې څوک نه پلوري

۳ـ دهوګې (خامې هوګې) له استعماله يې منع وکړه

۴ـ داسونو دغوښي اجازت يې وکړ (دې کې دفقهاوو اختلاف دی)

ددې ټولو تفصيل دسيرت او تاريخ په کتابونو کې شته په خاصه توګه زرقاني ۲ټوک د۳۳۳مخ نه تر ۳۳۵پورې وګورئ

نور بيا...

د مورچل وږمې

#احمد نبي

دوینو څاڅکي

دوینو څاڅکی به ډیوی په هره لاره وړمه
له عشقه مست لکه منصور غاړه تر داره وړمه

دانگم لمبو ته دنمرود خلیلی عزم سره
په اسلامی سپیڅلی نور میدان تر له ناره وړمه

په پیروی کی دحمزه دمینی راز لټوم
د زړه زخمونه نذرانه تر خپله یاره وړمه

دخبیب مینه تلوسه دشهادت راکوی
خوند دطلحه غوندی دغشو له پرهاره وړمه

دټینگ ایمان سپینی منگولی می په زړه خښی دی
دوطن نازبه له سرو وینو د اغیاره وړمه

احمدنبی چی دغزا غاړی ته چی هار جوړوم
غنچه غنچه گلان دشعرله بهاره وړمه

غزل

حفیظ الدین پیرزاده

چې یې رزق د غربیانو له کاسې وې
مسلمان څخه کافر ته ډیر نژدې وې

چې یې ټوله کورنۍ وي په خارج کې
او دی هم دلته راوړی پروژې وي

چې له پلاره ورته گوډ خر پاته نه وي
خو له ده سره موټر ضد د ذرې وي

چې پرون یې ټول جایداد یو خټین کور و
نن یې هر چرته کورونه او بنگلې وې

چې تاریخ د کورنۍ یې له ده پیل وي
نه یې پلار نه یې نیکه یاد په جرگې وي

چې پردۍ ژبې ته سم لکه بلبل وي
او پښتو ته یې مات کړي لاس پښې وي

چې ملا یې هم د کفر زیره خور وي
د ناټو گټه اساس یې د فتوې وي

چې ملي اردو یې خلاصه وي وجدان نه
همیشه یې خپل ولس باندې حملې وي

چې پولیس یې داړه مار، غلا کې ماهر وي
او موخه یې د خدمت پر ځای پیسې وي

چې وزیر یې غل، وکیل کمیشن کار وي
د قاضي یې د رشوت په سر جگړې وي

چې کوټوال یې وي غاصب، خائن تر پوندو
د فاسد نظام هر څه د مسخرې وي

نو!!
څوک که تمه کړې چې دوی به وطن جوړ کړي
حماقت خو یاره هم تر اندازې وي

سپين او تور

عُقابي جانان

اې زما سپيني عقيدې تنِ تنها دې کړمه
لتا مننه ډېرو خلکو نه جدا دې کړمه

سپين راته تک سپين اوهم توردې سم تک تورکړو
له بعضو بعضو نا اشنا ومه اشنا دې کړمه

په اسلام پالو مسلمانو دې سم دم مبين کړم
هر منافق دې راته وښود تړې جلا دې کړمه

د اسلاميت او شريعت سپين الهي قانونه!
د جمهوريت کفري نظام نه بې پروا دې کړمه

زما د سپينې کليمې سپين اسلامي بيرغه!
له برګو، شنو، سرو بيرغو نه خود کفا دې کړمه

شخصيت پرستو، قوم پرستو ته دنيل ځپه شوم
د وخت مارانو ته موسى د لاس امسا دې کړمه

د دربارياتو خباثت راته ښه سم جوَت شو
الهي شکر چې طالب دې کړم ملا دې کړمه

د حق پرسته علماؤو مقدسې ډلې!
نادان وم نه پوهېدم څه نه څه دانا دې کړمه

اى د آخرې زمانې د اسلام سرې سکروټې
لاس کې دې اخلمه هر وختې ملګرتيا دې کړمه

ياربه شکرمسلمان دې کړم، مؤمن اومجاهد دې کړمه
چاته دې زهَر، چاته شات، چاته شفا دې کړمه

د "عُقابي جانان" سپېځلې او طالبې مينې
ما درپسې نيت دى ترلى اقتدا دې کړمه

مسلمان له منځه وړی

کفار سره يو شوی مسلمان له منځه وړی
په نوم د بشردوست ټول افغانان له منځه وړي

په مکر او فريب يې دوکه نشې ځيرک اوسې
د څو پيسو بدل کې مو ايمان له منځه وړي

راغلی دي په زور په ګران وطن يې يرغل کړی
غربی قانون يې خپور سپين قران له منځه وړي

په سازاوپه سرود يې نوی نسل ټول ګمراه کړل
يه زنګ دکليسا ږغ د آذان له منځه وړي

په قوم او په سمت مو له يو ېله سره وژنی
دحق دامتحد صف سپين کاروان له منځه وړي

وهه يې حنفی د حق په توره اورميږو نه
چې څوک د اريا نا نوم او نشان له منځه وړي

۲۰۱۸ زکال

د مـــې د میاشتې جهادي خبرونه

د اسلامي امارت لخوا په پکتیکا، بدخشان، کندز، جوزجان او نورو ولایتونو کې له یتیمانو، د شهدا و، معیوبینو او بې وزله کورنیو سره د خوراکي توکو مرسته

د اسلامي امارت د ښوونې او روزنې کمیسیون لخوا د پروان ولایت سیاه گرد ولسوالی کې د تعلیمي بهیر د پیاوړتیا په پارجوړه شوې ستره غونډه

MORCHAL

Islamic. Jihady . Educational
and Cultural Monthly Journal